لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ (البخاری)

زِيْنَةُ الْوُضُوْءْ

داوداسه ښکلا

مقدمه

فضيلة الشيخ سردار ولي ثاقب حفظه الله

ليکوال

استاد فريد احمد «هلال»

زِيْنَةُ الْوَضُوءْ

(د اوداسه ښکلا)

فرید احمد هلال



د فضيلة الشيخ سردار ولي ثاقب حفظه الله تقريظ 7

د فضيلة الشيخ سردار ولي ثاقب حفظه الله تقريظ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباكاً فيه، والسلام على سيد الانبياء محمد واله وصحبه اجمعين!

اما بعد!

ښکه چې زموږ عزتمند وروړ استاد فريد احمد هلال د زينة الوضوء په نامه دا يو ښه علمي ليکل، هره برخه يې تشريح او توضيح کړې ده، هيله ده علماء کرام او طلاّب العلم، همدا رانګه اهل تحصيل ترېنه فايده واخلي او دا چې محترم استاد هلال صاحب د ډېرو مشاغلو سره سره دا فايده من کتاب تاليف او برابر کړو، رب العلمين دې ورته د دنيا او اخرت اجر جزيل ورکړي.

امين يا رب العلمين

سردار ولي ثاقب

د نارنج باغ دارالعلوم استاد

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰه، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَمَّا بَعْد

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوۡتُنَّ اِلَّا وَاَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ۝ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمُ الَّذِىۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالًا كَثِيۡرًا وَّنِسَآءً‌ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِىۡ تَسَآءَلُوۡنَ بِهٖ وَالۡاَرۡحَامَ‌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيۡبًا۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوۡلُوۡا قَوۡلًا سَدِيۡدًا۝ يُّصۡلِحۡ لَـكُمۡ اَعۡمَالَـكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَـكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ‌ ؕ وَمَنۡ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيۡمًا۝

قدرمنو لوستونکیو!

د اسلام دين له عقيدو، اعمالو، اخلاقو، معاملاتو او داسې نورو شيانو نه مرکب دى زموږ شيخ به دين له ګاډي سره تشبيه کاوه، په دې مانا چې په ګاډي کې رنګا رنګ پرزې وي، څه وړې او څه غټې وي، څه ډېرې ګرانې او څه ارزانه وي؛ خو هغه ټولې ضرورې وي، که له هغو نه يوه يا دوه کار پرېږدي؛ نو ټول ګاډى کار پرېږدي، لکه د اتيا سلو لکو روپيو موټر به وي، ټېل به پکې وي، انجن به يې ښه روغ وي؛ خو چې په ټېرونو کې يې هوا نه وي؛ نو نشي تلاى، که څوک يې روان کړي؛ نو خرابيږي، سره له دې چې هوا يې ډېره ارزانه وي، په لس شلو روپيو يې ټېرونه ډکېږي، همدا راز په ګاډي کې بيټرۍ وي او له هغې نه نرۍ نرۍ تارونه تللي وي او دغه تارونه هم څه ګران بيه نه وي، په څو روپيو وي؛ خو که دغه تارونه وسوځي او برق نه تېروي؛ نو ګاډى به پر ځاى ولاړ وي، يانې د اتيا سلو لکو روپيو موټر د لس شلو روپيو هوا ته اړتيا لري، دغه زموږ د

دين مثال هم دی، په دين کې ځينې ډېرې غټې او درنې چارې شته، چې له هغې نه غير دين باقي نه پاتې کېږي، لکه عقېده او نور درانه علمونه، لکه جهاد... او ځينې داسې دي چې خلکو ته واړه ښکاري؛ خو هغه هم ضروري دي، پر هغې دين روان دی، د دين دغه غټ غټ عملونه د دغو وړو کارونو له امله چلېږي او له دين نه هله سرې پوره ګټه اخيستلای شي، چې ټولې خواوې يې راخپلې کړي، په دين کې به هيڅ خبره وړه نه ګڼې، لکه رسول اللهﷺ فرمايي:

لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا([1])

((له نېکۍ نه به هيڅ شی وړوکی نه ګڼې))

او مونځ د اسلام هغه بنيادي رکن دی، چې له دې پرته څوک مسلمان نه شمېرل کېږي، لکه نبي کريمﷺ فرمايي:

«بَيْنَ الْعَبْدِ، وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ»

((د بنده او کفر تر منځ د مانځه پرېښودل دي([2]))

او دغه ستره فريضه له اوداسه پرته نه کېږي، لکه رسول اللهﷺ فرمايي:

«لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ» ([3])

((د هغه چا مونځ نه قبلېږي چې بې اودسه شي، تر دې چې اودس وکړي))

لنډه دا چې اودس د مانځه بنياد دی او مونځ د اسلام بنياد دی، چې بنياد پوخ او سم وي؛ نو پورته ودانۍ هم پرې ښه او ټينګه راځي او که بنسټ پوخ نه وي؛ نو پورته ودانۍ پرې هم ښه نه راځي، همدا لامل دی چې څوک په اوداسه کې د سنتو خيال ساتي؛ نو په مانځه کې به يې خامخا ساتي او چې مونځ اودس د چا جوړ شي؛ نو دين يې هم جوړېږي، که څوک خپل دين برابرول غواړي؛ نو د خپل دين بنياد دې برابر کړي؛ خو شيطان زموږ داسې ابدي او بنيادي دښمن دی، چې زموږ د هرې نېکۍ د بنياد نړولو کوښښ

[1]: صحيح مسلم (4 / 2026)

[2]: سنن أبي داود (4 / 219)حكم الألباني: صحيح

[3]: صحيح البخاري (1 / 39)

کوي؛ نو مؤمن ته پکار دي، چې له دغه ابدي او بنيادي دښمن نه د نبوي سنتو مضبوطې کلا ته پناه يوسي او همدغه د خلاصون لار ده، الله سبحانه وتعالی دې د شيطان له وسوسو او دسيسو نه زمونږ د ايمان او نېکو اعمالو حفاظت وکړي او په صحيح سنتو دې د عمل توفيق راکړي.امين!

ستاسي د دعاوو په هيله
فريد احمد هلال
۰۰۹۳۷۷۵۲۰۳۵۰۰
Farid.hilal06@gmail.com

د اوداسه فضايل

قدرمنو لوستونکيو!

اودس که څه هم د عبادت وسيله ده؛ خو پخپله هم عبادت دی او داسې عبادت، چې انسان نورو عبادتونو ته راکاږي، څکه زياتره عبادت د بې اودسۍ له امله له انسان نه پاتې کېږي، چې بې اودسه شي؛ نو بيا يې اودس ته وسه نه کېږي، يا اوبه يخې وي، يا نه وي او يا ورسره وخت نه وي، که دغه يو عذر هم نه وي؛ خو شيطان پرې د لټۍ پړي واړوي او نېکيو ته يې نه پرېږدي؛ خو تاسې به ډېر داسې خلک ليدلي وي، چې وايي هسې مې هم اودس پر ځای دی يو دوه رکعته مونځ به وکړم، تلاوت به وکړم...نو له دې امله د اوداسه اهتمام پکار دی.

نبي کريمﷺ فرمايي: چې څوک ښه ښايسته اودس وکړي او بيا مونځ وکړي: غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلاَةِ حَتَّى يُصَلِّيَهَا»[4]

((ټول هغه ګناهونه يې ببښل کېږي چې د ده او د ده د مانځه تر منځ وي، تر دې چې مونځ وکړي))

رسول اللهﷺ د اوداسه په فضيلت کې فرمايي، چې زه به د قيامت په ورځ خپل امت له دې نه پېژنم چې د اوداسه اندامونه به يې ځلېږي، لکه فرمايي:

عَنْ نُعَيْمٍ المُجْمِرِ، قَالَ: رَقِيتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى ظَهْرِ المَسْجِدِ، فَتَوَضَّأَ، فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ القِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الوُضُوءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ»[5]

((نعيم مجمر وايي: زه له ابوهريره رضي الله تعالى عنه سره د جماعت بام ته وختم؛ هغه اودس وکړ او ويې ويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: زما امت به د قيامت په ورځ سپين مخونه، سپين لاسونه او سپينې پښې رابلل

[4]: صحيح البخاري (1 / 43)

[5]: صحيح البخاري (1 / 39)

کېږي، د اوداسه د اثر له امله؛ نو که په تاسې کې د چا له وسه پوره وي چې خپل سپين والی اوږد کړي؛ نو دا کار دې وکړي.))

همدا راز فرمايي:

«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ، حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ»(6)

((چا چې ښايسته اودس وکړ له بدن نه يې ګناهونه وځي (رژېږي) تر دې چې د نوکونو له بېخه يې ټول ګناهونه ووځي.))

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ، فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ، غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ، وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا»(7)

((ابو هريره رضي الله عنه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چا چې ښايسته اودس وکړ بيا د جُمعې مانځه ته راغی، خطبه يې واورېده او غلی کېناست، د ده او د جمعې تر منځ ټول ګناهونه به وبښل شي او درې ورځې به پر دې سربېره ورته ښښنه وشي او که چا کاڼي مسحه کړل (په کاڼو کې يې ګوتې ووهلې) نو لغوه کار يې وکړ (ياني د جُمعې ثواب يې له لاسه ورکړ))

همدا راز فرمايي:

مَنْ تَوَضَّأَ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ فِيهِ وَأَنْفِهِ، فَإِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ وَجْهِهِ، حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَشْفَارِ عَيْنَيْهِ، فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ يَدَيْهِ، فَإِذَا مَسَحَ بِرَأْسِهِ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ رَأْسِهِ، حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ أُذُنَيْهِ، فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ رِجْلَيْهِ، حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ رِجْلَيْهِ، وَكَانَتْ صَلَاتُهُ وَمَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ نَافِلَةً (8)

---

6 : صحيح مسلم (1 / 216)

7 : صحيح مسلم (2 / 588)

8 : سنن ابن ماجه (1 / 103) [شرح محمد فؤاد عبد الباقي]

((څوک چې په اوداسه کې خولې او پوزې ته اوبه واچوي؛ نو له خولې او پوزې نه يې ګناهونه اووځي (ورژېږي) چې مخ ومينځي؛ نو له مخ نه يې ګناهونه ووځي، تر دې چې د سترګو له کونجونو نه يې هم ګناهونه ووځي، کله چې لاسونه ومينځي؛ نو دلاسونه ګناهونه يې ووځي، چې په سر مسح وکړي؛ نو د سرګناهونه يې ورژېږي، تر دې چې د غوږونو ګناهونه يې هم ورژېږي، کله چې پښې ومينځي؛ تر دې چې د پښو له نوکانو نه يې هم ګناهونه ورژېږي، تر دې وروسته مونځ او جومات ته تلل اضافي اجر دی.))

«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ صَلَّى صَلَاةَ الْمَكْتُوبَةِ يَحْفَظُهَا وَيَعْقِلُهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا كَانَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»([9])

((چا چې ښکلی اودس وکړ او بيا يې (په داسې شان)فرضي مونځ وکړ، چې د هغې حفاظت وکړي او ځان پرې پوه کړي، تر دې چې پای ته يې ورسوي؛ نو داسې دی، لکه چې تازه له موره زېږېدلی وي.))

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ يُقْبِلُ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ»([10])

((له عقبه بن عامر الجهني ﷺ نه روايت دی، هغه وايي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چې څوک ښايسته اودس وکړي او بيا دوه رکعته مونځ (داسې) وکړي، چې په زړه او ظاهراً ورته متوجه وي؛ نو د ده لپاره جنت واجب شي.))

«مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا، إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ» ([11])

[ش (أشفار عينيه) أشفار العين أطراف الأجفان التي بنيت عليها الشعر. جمع شفر. (نافلة) أي زائدة على تكفير تلك الخطايا المتعلقة بأعضاء الوضوء. فتكون لتكفير خطايا باقي الأعضاء أن كانت. وإلا فلرفع الدرجات] . حكم الألباني: صحيح.

[9] : مسند أبي داود الطيالسي (2 / 348)

[10] : سنن النسائي (1 / 95) [حكم الألباني] صحيح

[11] : صحيح مسلم (1 / 206)

((نه شته يو مسلمان چې د فرض مانځه وخت پرې راغی او دا ښایسته اودس وکړي، د هغې خشوع او رکوع ښه مزيداره وکړي؛ نو الله سبحانه وتعالى به يې دغه مونځ د مخکنيو ګناهونو کفاره وګرځوي؛ خو چې کبيره ګناهونو ته يې راتګ نه وي کړی او دا د هرې زمانې لپاره ده.))

د ښه اوداسه ځانګړنې

په حديث کې دا مسئله تېره شوه، چې څوک ښه اودس وکړي؛ نو الله جنت ورکوي اوس ګورو چې ښه اودس څنګه وي او په کوم اوداسه د جنت وعده شوې ده، هغه اودس دغه لاندېنې خصوصيات لري:

١: د نبيﷺ د سنتو مطابق وشي.

٢: له ښي طرفه اودس پيلول، یانې اول ښی اندام او بيا وروسې چپ اندام وينځل (په دې اړه د لا ډېر تفصيل لپاره الحق الصريح:٢\٣١١) کتلای شئ!.

٣: په لږو اوبو وشي، په بخاري شريف کې د انسﷺ روايت دی، نبي کريمﷺ به يو مُدْ (چې دا تقريباً نيمه کيلو او پنځوس (٥٥٠) ګرامه کېږي) اوبو اودس کاوه، لکه فرمايي:

«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ، أَوْ كَانَ يَغْتَسِلُ، بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ، وَيَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ»([12])

((نبيﷺ غسل وکړ، یا به يې غسل کاوه له يو صاع اوبو نه تر پنځو مدو اوبو پورې او اودس به يې په يوه مد اوبو کاوه.))

په اوداسه کې د لږو اوبو کارول په دې حديث کې ښه انځور شوي دي، چې نبيﷺ به په اوداسه کې دومره لږې اوبه کارولې چې:

لَمْ يَلُتَّ مِنْهُ التُّرَابُ([13])

((لاندې خاوره به ترې نه لمدېده))

---

[12]: صحيح البخاري (1 / 51)

[13]: سنن أبي داود (1 / 122) حكم الألباني : صحيح

رسول الله ﷺ به په اوداسه کې لږې اوبه کارولې او په اوداسه کې ډېرې اوبه کارول گناه ده او دا بیا د نورو گناهونو لپاره ذریعه ده او چې څوک په اوداسه کې له اسراف نه ځان نه ساتي؛ نو هغه بیا په نور ژوندانه کې هم له اسراف نه ځان نشي ساتلای.

٤: له درې ځلو نه زیات اندامونه وته مینځل شي، ځکه په دې اړه د رسول الله ﷺ ښه وعیدي حدیث راغلی دی، چې یو ځل نبي ﷺ اودس وکړ او د اوداسه ټول اندامونه یې درې ځله ومینځل او بیا یې وفرمایل:

«هَكَذَا الْوُضُوءُ، فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدَّى وَظَلَمَ»([14])

((اودس همداسې وي، که چا ترې زیاتی وکړ (خپل اندامونه یې له درېیو ځلو نه زیات ومینځل) نو بد یې وکړل، زیاتی او ظلم یې وکړ))

۴: په لوټه (کوزه) اودس کول، چې د دې یو حکمت همدا دی، چې اوبه پکې لږې کارېږي.

۵: د استنجا او اوداسه لپاره بېلې بېلې اوبه کارول، یانې استنجاء په یوه لوښي او پاتې اودس په بل لوښي کول.

۶: پوزه په چپ لاس سونړ کول.

۷: په یوه موټي کې اوبه راخیستل او بل ورسره یو ځای کول او بیا مخ ته اچول، لکه امام بخاري باب لکولی دی: بَابُ غَسْلِ الوَجْهِ بِاليَدَيْنِ مِنْ غَرْفَةٍ وَاحِدَةٍ ([15])

۸: پښې په چپ لاس مینځل.

۹: نبي ﷺ به استنجا په کانو کوله او یا به یې په اوبو کوله، که څه هم د دواړو یو ځای کول جواز لري؛ خو سنت نه ده.

۱۰: په اوداسه کې مسواک کارول.

[14]: سنن النسائي (1 / 88) [حكم الألباني] حسن صحيح

[15]: صحيح البخاري (1 / 40)

په استنجاء او نور اودس کې بدعات

۱: په استنجاء کې ډېرې اوبه کارول.
۲: د اوداسه پر مهال مخ قبلې ته کول مستحب ګڼل.[16]
۳: له ډک او تش اودسماتي پرته استنجاء کول، یانې د بادو وتو له امله استنجاء کول.
۴: په کاڼو تر استنجاء کولو وروسته په اوبو استنجاء کول لازم ګڼل.
۵: په کاڼو د استنجاء کولو په صورت کې کاڼو ته دا ویل چې ذکر بند کړه.
۶: په کاڼو استنجاء کې دا فرقونه کول، چې په اوړي کې به لومړی لوټه یا کاڼی له شا طرف نه راکاږي او په ژمي کې به اول له مخې نه راکاږي، چې دغه طریقه د فقې په کتابونو کې، لکه نور الایضاح او داسې نورو کې لیکل شوې ده؛ نو دغه طریقه لازمول او یا پکې ثواب ګڼل بدعت دي.[17]
۷: د اوداسه اندامونه له درې ځلو نه زیات مینځل، ځکه دا کار سودایان کوي او نبي کریمﷺ یو ځل اودس وکړ او هر اندام یې درې ځله ومینځه او بیا یې وفرمایل:
هَكَذَا الْوُضُوءُ، فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدَّى وَظَلَمَ»[18]
((همدغه اودس دی،که چا پر دې زیات وکړ (خپل اندامونه یې له درې ځلو نه زیات ومینځل) نو بد یې وکړل، زیاتی او ظلم یې وکړ))
۸: په اوداسه کې مطلق خبرې ناروا ګڼل، ځکه په اوداسه کې مطلق خبرې نا روا نه دي، بلکې په دې کې تفصیل دی، هغه دا چې غلطې او بې دینه خبرې هر وخت نا روا دي او سمې، پر ځای او دیني خبرې هر وخت ښې دي.

---

16 : (الدين الخالص:۲\۵٤۳ پښتو)

17 : امين الفتاوى:۱\۱۰٦، الحق الصريح:۲\۱۳۳

18 : سنن النسائي (1 / 88) [حكم الألباني] حسن صحيح

اودس واجبوونکي شيان

د اوداسه واجبوونکي شيان دوه ډوله دي، چې يو يې اتفاقي او بل يې اختلافي دي، اتفاقي هغه دي چې په احاديثو کې له هر ډول قيد او شرط پرته د اوداسه واجبوونکي ښوودل شوي دي، چې په لاندې ډول دي:

۱: ماخرج من السبيلين (له دوو لارو نه څه شی وتل، که هغه هر څه وي)

خو دا خبره ياد لرل پکار دي، چې کله نا کله اختلاج هم کېږي، ياني د مقعد خوله وريږېږي او سړی پرې د بې اودسه کېدو گومان وکړي، لکه په حديث شريف کې راځي:

عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ الَّذِي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّيْءَ فِي الصَّلاَةِ؟ فَقَالَ: «لاَ يَنْفَتِلْ - أَوْ لاَ يَنْصَرِفْ - حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا»([19])

((عباد بن تميم له تره نه روايت کوي، چې يقيناً يو سړي رسول الله ص ته گيله وکړه، چې خيال ورته راځي چې په مانځه کې يو شی مومي (ياني د بې اودسه کېدو شک ورته راپېښوځي) نو نبي ص ورته وفرمايل، چې نه دي گرځي (ياني مونځ دې نه ماتوي) تر دې چې څه اواز واوري او بوی مونده کړي.))

۲: **په بې هوشۍ** باندې په اتفاق د علماوو اودس مات دی او تر بې هوشۍ وروسته غسل کول سنت دي، ځکه نبي ص په مرض الوفات کې تر بې هوشۍ وروسته څو ځله غسل کړی و.(20)

۳: **مطلق خوب** (هغه په ناسته او که په ملاسته وي، ډه يې وهلې وي او که نه)

لکه له علي بن ابي طالبﷺ نه نقل دی، چې نبي ص فرمايلي دي:

وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ، فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ ([21])

---

[19]: صحيح البخاري (1 / 39)

[20]: الدين الخالص (پښتو):٤٤٤

[21]: سنن أبي داود (1 / 52) [حكم الألباني] : حسن

((د کناتو مزي سترګې دي، نو څوک چې ویده شو؛ نو اودس دې وکړي.))

۴: د اوښ د غوښې په خوړو اودس واجبيږي (د راجح قول له مخې)

جابر بن سمرهﷺ فرمايي:

أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ؟ قَالَ: «إِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ، وَإِنْ شِئْتَ فَلَا تَوَضَّأْ» قَالَ أَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ؟ قَالَ: «نَعَمْ فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ»([22])

((یوه سړي له رسول اللهﷺ نه پوښتنه وکړه، چې زه به د ګډې، وزې د غوښې (خوړلو) نه پس اودس کوم؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمایل خوښه دې اودس کوې او که نه! هغه بیا عرض وکړ، چې د اوښ د غوښو خوړلو نه پس به اودس کوم؟ ورته وېې فرمایل چې هو! د اوښ د غوښې (خوړلو) نه پس اودس کوه...))

همدا راز جابر بن سمرة رضی الله عنه فرمايي:

«كُنَّا نَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ، وَلَا نَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ» ([23])

((موږ به د اوښ د غوښې (خوړلو) نه پس اودس کاوه او د ګډې وزې د غوښې (خوړلو) نه پس به مو نه کاوه.))

همدا راز فرمايي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: «أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَوَضَّأَ، مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ، وَلَا نَتَوَضَّأَ، مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ»([24])

((له جابر بن سمرة رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول اللهﷺ موږ ته امر کړی دی، چې د اوښ د غوښې (خوړلو) نه اودس وکړو او د ګډې وزې د غوښې (خوړلو) نه یې ونه کړو.))([25])

---

[22]: صحیح مسلم (1 / 275)

[23]: مصنف ابن أبي شيبة (1 / 50)

[24]: سنن ابن ماجه (1 / 166) [حكم الألباني] صحيح

اختلافي نواقض الوضوء

او له دې نه غير نور تول اختلافي دي، لکه د ذکر او ښځې په مسح کولو سره، په وينې تويدو او کانګو کولو سره، د جنازې وړلو سره، په اور پخ شوي شي خوړو او داسې نور...

١ : **جنازه وړل**:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ غَسَّلَ الْمَيِّتَ فَلْيَغْتَسِلْ، وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ»([26])

((له ابو هريرة رض نه روايت دی چې بېشکه رسول اللهﷺ فرمايلي دي: چا چې مړی ولمباوه؛ نو لمبوونکی دې هم ولامبي او که چا جنازه يووړه؛ نو اودس دې وکړي.))

---

[25] : شرح النووي على مسلم (4 / 48) امام نووي د مسلم په شرح کې د جابرﷺ د حديث لاندې ليکي:

وَذَهَبَ إِلَى انْتِقَاضِ الْوُضُوءِ بِهِ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ وَإِسْحَاقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ وَيَحْيَى بْنُ يَحْيَى وَأَبُو بَكْرِ بْنُ الْمُنْذِرِ وبن خُزَيْمَةَ وَاخْتَارَهُ الْحَافِظُ أَبُو بَكْرٍ الْبَيْهَقِيُّ وَحُكِيَ عَنِ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ مُطْلَقًا وَحُكِيَ عَنْ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ وَاحْتَجَّ هَؤُلَاءِ بِحَدِيثِ الْبَابِ وَقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ فَأَمَرَ بِهِ قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى وَإِسْحَاقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا حَدِيثَانِ حَدِيثُ جَابِرٍ وَحَدِيثُ الْبَرَاءِ وَهَذَا الْمَذْهَبُ أَقْوَى دَلِيلًا وَإِنْ كَانَ الْجُمْهُورُ عَلَى خِلَافِهِ وَقَدْ أَجَابَ الْجُمْهُورُ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ بِحَدِيثِ جَابِرٍ كَانَ آخِرَ الْأَمْرَيْنِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْكُ الْوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ وَلَكِنْ هَذَا الْحَدِيثُ عَامٌّ وَحَدِيثُ الْوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ خَاصٌّ وَالْخَاصُّ مُقَدَّمٌ عَلَى الْعَامِ

[26] : سنن أبي داود (3 / 201) [حكم الألباني] : صحيح

خو دغه امر د استحباب په درجه کې دی، ځکه په دې اړه نور احادیث شته، لکه د ابن عباس او ابن عمرﷺ روایتونه په (مستدرک:۱\۳۸٦، بیهقي:۳\۳۹۸، الدار قطني:۲\۷۰۱) شته.

۲: **له مشرک سره په لاس سترې مشي کول**، لکه له حسن بصري رحمه الله نه نقل دي:

«إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ , فَلَا تُصَافِحُوهُمْ , فَمَنْ صَافَحَهُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ»([27])

((بېشکه مشرکان نجس دي، دوی ته لاس مه ورکوئ او که چا په سترې مشي کې لاس ورکړ؛ نو اودس دې وکړي.))

۳: **په شهوت سره ذکر، یا فرج ته لاس وروړل.**

یو جامې د پاسه دي، چې دا په اتفاق د علماوو سره اودس نه ماتوي.

له جامو پرته لاس ور وړل، چې په دې کې هم دوه طریقې دي

۱: د ګوتو او یا شا ور سره ولګېږي نو پر دې اودس نه ماتېږي.

۲: خو چې د لاس په تلي کې ونیول شي، یانې په موټې کې ونیول شي؛ نو په دې کې بیا دوه قوله دي:

أَخْبَرَنَا عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ فِي مَسِّ الذَّكَرِ وَأَنْتَ فِي الصَّلاةِ، قَالَ: «مَا أُبَالِي مَسَسْتُهُ أَوْ مَسَسْتُ أَنْفِي»([28])

((عطاء بن ابي رباح له ابن عباسﷺ نه روایت کوي، چې ابن عباس په مانځه کې د ذکر مسه کولو په باره کې ویلي دي، چې باک نه کوي، که ذکر ته ګوتې ور وړم او که پوزې ته.))

خو ډېر اهل علم بیا وايي چې که څوک له جامو په پرته په موټې کې ذکر راونیسي نو اودس یې ماتېږي، لکه د بُسرې رضی الله عنها په حدیث کې راغلي دي، که څه هم دغه حدیث تقریبا له (۲۱) صحابه وو نقل دی؛ خو د بُسرې رضی الله عنها حدیث ېکې ډېر قوي او مشهور دی، چې په لاندې ډول دی:

---

[27]: مصنف ابن أبي شيبة (5 / 247)

[28]: موطأ مالك رواية محمد بن الحسن الشيباني (1 / 36):

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عُرْوَةَ، يَقُولُ: دَخَلْتُ عَلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ فَذَكَرْنَا مَا يَكُونُ مِنْهُ الْوُضُوءُ، فَقَالَ مَرْوَانُ: وَمِنْ مَسِّ الذَّكَرِ؟ فَقَالَ عُرْوَةُ: مَا عَلِمْتُ ذَلِكَ، فَقَالَ مَرْوَانُ: أَخْبَرَتْنِي بُسْرَةُ بِنْتُ صَفْوَانَ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ مَسَّ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ»[29]

((له عبدالله بن ابي بکر نه روایت دی، چې هغه له عروه نه اورېدلي دي، چې مروان بن الحکم ته ورننوتم، نو اودس ماتوونکي شیان مو ذکر کړل؛ نو مروان پوښتنه وکړه چې د ذکر په مسه کولو اودس ماتېږي؟ نو عروه وویل چې په دې نه پوهېږم؛ نو مروان وویل چې د صفوان لور بسرې خبر راکړی دی، چې هغې له رسول الله ص نه اورېدلي دي، چې فرمایل یې: چا چې ذکر مسه کړ؛ نو اودس وکړي.))

ابو هریرة له رسول الله ص نه روایت کوي، چې هغه فرمایلي دي:

إِذَا أَفْضَى أَحَدُكُمْ بِيَدِهِ إِلَى ذَكَرِهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ شَيْءٌ فَلْيَتَوَضَّأْ[30]

((په تاسې کې که یو تن خپل لاس خپل ذکر ته ور وړي، په داسې حال کې چې د ده او د ذکر تر منځ څه شی نه وي؛ نو اودس دې وکړي.))

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله پکې دا خبره لیکلې ده، چې هغه د سړي ذهن ته ښه پرېوځي، چې سړی په هغې عمل وکړي؛ نو اساني هم پکې ده او له احادیثو نه هم معلومه ده، هغه دا چې: که څوک په شهوت سره ذکر مسه کړي؛ نو اودس یې مات دی؛ څو که کړول یې هدف وي؛ نو بیا اودس نه ماتېږي او دغه د شهوت قید یې له هغه حدیث نه رایستلی دی، چې صحابه کرامو ویلي دي، چې ذکر د غوږ او پوزې پشان د غوښې یوه ټوټه ده؛ نو دغه تشبیه هله صحیح کېږي، چې په ذکر کې شهوت نه وي، که شهوت پکې وي؛ نو بیا دغه تشبیه نه صحیح کېږي، ځکه چې کله په بدن کې شهوت پیدا شي؛ نو په ټول بدن کې ورسره توپیر پیدا کېږي،په زړه او دماغو کې ورسره فرق راځي، عقل د سړي کمزوري شي، ځکه د شهوت په پیداکېدو په صورت کې له انسان

[29] : سنن أبي داود (1 / 46) [حكم الألباني] : صحيح

[30] : مسند الشافعي (1 / 13)

نه دوه برخې عقل ترې لاړ شي؛ نو په دغسې وخت کې سړی بې عقله غوندې شي، طبيعت يې هم خراب شي، په سړي کې شيطاني غوندې صفت پيدا شي؛ نو ښکار ده چې اودس وکړي.

تنبيه

که چا جامې د پاسه خپل خاص اندام ته ګوتې وروړې؛ نو اودس يې نه ماتېږي.
که له جامې نه غير يې د ګوتو څوکې او يا د لاس شا ور وړه؛ نو اودس يې نه ماتېږي.
که خپل ذکر يې په موټي کې راونيو احتياطاً اودس دې وکړي.
که د شهوت په نيت يې ګوتې ور وړې؛ نو اودس يې ماتېږي، ښکار ده چې بيا اودس وکړي.
شيخ القرآن ابو زکريا عبدالسلام الرستمي رحمه الله به د توکې په بڼه دا خبره کوله چې سړی اودس وکړي او بيا په بدن کې لاس ننباسي؛ نو ښکار ده چې اودس وکړي، ځکه له اوداسه نه پس د چا څه کار دی، چې په بدو کې لاسونه ننباسي.
څنګه چې ذکر ته په شهوت سره په لاس ور وړو د سړي اودس ماتېږي، همدغه شان که ښځه خپل فرج ته د شهوت په نيت لاس ور وړي؛ نو اودس يې ماتېږي، لکه بسره رضی الله عنها له رسول اللهﷺ نه روايت کوي، چې هغه فرمايي:
«مَنْ مَسَّ فَرْجَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ»[31]

په دې شيانو اودس نه ماتېږي

۱: په مانځه کې په قهقه خندا اودس نه ماتېږي، بلکې يوازې مونځ پرې ماتېږي، د لا تفصيل او جانبينو د دليلونو کتو لپاره (امين الفتاوى:۱۱۷\۱) کتلای شئ!.
۲: په مانځه کې پنځو ښکته کولو سره هم اودس نه ماتېږي او په دې اړه هغه د (سنن ابو داود:۱\۱۰۰، رقم:۲۸۷)حديث ضعيف دی، چې په پينځو ښکته کول ښکې د اودس ماتېدل ښوول شوي دي، لکه

31: سنن النسائي (1 / 216) [حكم الألباني] صحيح

عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّي مُسْبِلًا إِزَارَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ» ، فَذَهَبَ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: «اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ» ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ، ثُمَّ سَكَتَّ عَنْهُ، قَالَ: «إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ، وَإِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ»([32])

د دې په سند کې ابو جعفر نامعلومه کس دی، له دې امله دغه حديث ضعيف دی.

۳: وينې وتلو سره.

٤: کانګې کولو سره. په دې کې راجح خبره دا ده، چې له شرمځايونو پرته له بل کوم ځای نه د څه شي په وتلو اودس نه ماتېږي، په دې اړه ډېر دلايل دي، چې يو څو يې په لاندې ډول دي:

جابرﷺ وايي چې موږ له نبيﷺ ذات الرقاع عزا ته روان وو؛ نو په موږ کې يوه سړي د مشرکانو د يوه سړي ښځه ونيوله، هغه مشرک قسم وکړ، چې تر هغه وخته پورې به نه منع کېږي، تر څو يې چې د رسول اللهﷺ په ملګرو کې د چا وينه نه وي توی کړې؛ نو دغه سړی په رسول اللهﷺ پسې روان شو، رسول اللهﷺ په يوه ځای کې پړاو واچاوه او ارشاد يې وفرمايه چې څوک به زموږ څوکيداري وکړي، دوه کسان چې يو مهاجر او بل انصاري صحابي و راپورته شول، رسول اللهﷺ ورته وفرمايل چې تاسې دواړه د درې په خوله کې د څوکيدارۍ لپاره ودرېږئ، جابرﷺ فرمايي کله چې دغه دواړه سړي د درې خولې ته ووتل، مهاجر صحابي ډده ووهله او نصاري صحابي په مانځه ودرېده، په دې کې هغه مشرک راغی چې دی وپېژانده، چې دی خو د دې قوم سړی دی؛ نو په غشي يې وويشتو، صحابي هغه غشی وايسته او کېښوده يې، تر دې چې په درېيو غشو ولګېد، بيا هغه صحابي رکوع وکړه او سجده يې وکړه، بيا يې خپل مهاجر ملګری راويښ کړ....تر پايه([33])

[32]: سنن أبي داود (4 / 57) حكم الألباني : ضعيف

[33]: سنن أبي داود (1 / 51) حكم الألباني: حسن

تاسې ولیدل چې صحابي په غشي لګېدلی دی او مونځ یې نه دی مات کړی، تر دې چې رکوع او سجده یې هم کړې ده او بیا تر درېیو غشو لګېدو وروسته یې خپل ملګری راویښ کړی او بله دا چې دغه کیسه رسول اللهﷺ ته هم تېره شوې ده او هغه ورته نه دي فرمایلي چې تا نه خو وینه روانه وه، په دې اودس ماتېږي او ته لا په مانځه ولاړ وې!!!

۲: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا وُضُوءَ إِلَّا مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيحٍ» ([34])

((له ابو هریرهﷺ نه روایت دی، هغه وایي رسول اللهﷺ فرمایلي دي، چې اودس نه شته مګر اواز او هوا وتلو نه))

۳: د ابن عمرﷺ په لاس دانې وې ماتې به یې کړې، له هغې نه به وینه لاړه او هغه به یې د ګوتو په منځ کې ومښله، هماغسې به مونځ وکړو (د وینو زوو وتو له امله به یې بېرته) اودس نه کاوه.))

(ابن ابی شیبه:۱\۹۲، امام بخاري تعلیقا ذکر کړی دی:۱\۲۹، التلخیص الحبیر:۱\۱۱٤، المحلی:۱\۲٦۰)

له دې نه علاوه فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوري حفظه الله په امین الفتاوی:۱\۱٤۰، نه تر ۱٤٤ مخ پورې بې شمېره دلایل او د جانبینو اقوال او تجزیه وړاندې کړې ده، د لا ډېر تفصیل لپاره هلته مراجعه وکړئ!

اوس راځو خپلې اصلي موضوع ته، چې هغه اودس دی او اودس دوه برخې لري چې یوه یې استنجاء او بله یې چاراندام دی، استنجاء له ظاهري نجاست نه پاکوالی دی او چاراندام له باطني نجاست نه، په دې مانا چې کله چا ډک یا تش اودس نه وي مات کړی، اګر که نور نواقض الوضوء (لکه خوب، بې هوشي...) رامنځته شوي هم وي؛ نو په دغه صورت کې استنجاء ضروري نه ده، بلکې علماوو دغسې استنجاء بدعت بللې ده، لکه وروسته به له حوالې سره دغه خبره ذکر شي ان شاء الله! او چار اندام ځکه له باطني

---

[34] : مشکاة المصابیح (1 / 102)

نجاست نه پاکوالی دی چې که د انسان د اوداسه اندامونه هر څومره په خاورو او دوړو ککړ هم شي؛ خو چې له شرمځای نه یې څه شی نه وي وتلی د دغو اندامونو وینځل ضروري نه دي او که تازه یې هم لمبلي وي؛ خو چې دغه کار رامنځته شي؛ نو بیا به له سره چار اندام کوي، یانې که هوا ترې ووتله؛ نو هم استنجاء ته اړتیا نه شته، بلکې چاراندام به کوي، سره له دې چې په ښکاره ډول خو په دغو څلورو واړو اندامونو پورې څه ناپاکي نه ده نښتې، پکار خو دا وه چې فقط استنجاء ضروري وای؛ خو هسې نه ده، بلکې چار اندام اړین دی؛ نو له دې نه معلومېږي چې دا د باطني نجاست نه پاکوالی دی.

استنجاء (له ظاهري نجاست نه پاکوالی)

د استنجاء حکم

له ډک او تش اودسماتي نه وروسته استنجاء د جمهورو علماوو په اند فرض ده؛ خو احناف بیا د استنجاء په حکم کې فرق کوي او وایي چې که د انسان شرمځی د ګردې روپۍ په اندازه ککړ وي؛ نو استنجاء پرې واجبه ده او که هومره نه و؛ نو بیا پرې واجبه نه ده.

استنجاء درې ډوله ده:

۱: په کانو، لوټو... استنجاء کول.

۲: په اوبو استنجاء کول.

۳: اول په کانو لوټو او بیا په اوبو کول، یانې دواړه شیان جمع کول.

د استنجاء ړومبي دواړه ډولونه په صحیحو حدیثونو کې راغلي دي او دغه ډول استنجاء به په چپ لاس کوې، په ښې لاس یې کول روا نه دي او دریم یې ډول یې روا دی.[35]

---

[35]: الحق الصريح:۲/۱۳۳

په استنجاء کې د کاڼو کارولو په اړه اختلاف

په کاڼو استنجاء کولو کې د علماوو تر منځ اختلاف دی، چې د ډک اودسماتي په صورت کې د استنجاء لپاره څو کاڼي کارول واجب دي او د تش اودسماتي لپاره څو؟د جمهورو علماوو له نظره د ډک اودسماتي په صورت کې درې کاڼي کارول واجب دي او دغه دلیلونه وړاندې کوي:

۱: عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قِيلَ لَهُ: قَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ قَالَ: فَقَالَ: أَجَلْ «لَقَدْ نَهَانَا أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ، أَوْ بَوْلٍ، أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ، أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ أَوْ بِعَظْمٍ»([36])

((له سلمان رضي الله عنه نه نقل دي، چا ورته وویل، چې ستاسې پېغمبر تاسې ته هر شی درښيي، تر دې چې د اودسماتي مسئلې هم درښيي؟ هغه وویل: هو! موږ یې له دې نه ژغورلي یو چې د غټ او واړه اودسماتي پر مهال قبلې ته مخه کړو، یا په ښي لاس استنجاء وکړو، یا له درېیو کاڼو نه کم کاڼي د استنجاء لپاره وکاروو او یا په خوشایي او هډوکي استنجاء وکړو.))

۲: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ، أُعَلِّمُكُمْ، إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ، وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا. وَأَمَرَ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، وَنَهَى عَنِ الرَّوْثِ، وَالرِّمَّةِ. وَنَهَى أَنْ يَسْتَطِيبَ الرَّجُلُ بِيَمِينِهِ»([37])

((ابوهریره رضي الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه ستاسې لپاره (په شفقت او پېرزوینه کې) داسې یم لکه پلار د بچي لپاره، تاسې ته (په هر څه کې) سمه لارښوونه کوم؛ نو هر کله چې تاسې اودسماتي ته ځئ، قبلې ته به مخه او شاه نه اړوئ،(ابو هریره رضي الله عنه وایي) او رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته د استنجاء لپاره د درېیو کاڼو کارولو امر کړی او په خوشایي او

[36]: صحيح مسلم (1 / 223)

[37]: سنن ابن ماجه (1 / 114)حكم الألباني: حسن صحيح

هډوکي يې له استنجاء کولو نه منع کړي يو او په ښي لاس له استنجاء کولو نه يې هم منع کړې ده.))

۳: عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ [ص:11] رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْغَائِطِ، فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ يَسْتَطِيبُ بِهِنَّ، فَإِنَّهَا تُجْزِئُ عَنْهُ»([38])

((له عايښې رضي الله عنها نه روايت دی، چې بېشکه رسول اللهﷺ فرمايلي دي، کله چې په تاسې کې څوک اودسماتي ته ځي؛ نو درې کاڼي دې له ځانه سره وړي، ځان دې پرې پاک کړي، همدغه کافي دي.))

۴: عَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فِي الِاسْتِنْجَاءِ ثَلَاثَةُ أَحْجَارٍ، لَيْسَ فِيهَا رَجِيعٌ»([39])

((له حزيمه بن ثابتﷺ نه روايت دی هغه وايي رسول اللهﷺ فرمايلي دي، چې استنجاء په دربيو کاڼو ده؛ خو (درېواړه به کاڼي وي) خوشايي به پکې نه وي.))

۵: «لَا يَسْتَنْجِي أَحَدُكُمْ بِدُونِ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ»([40])

((په تاسې کې دې څوک له دربيو کاڼو نه په کمو استنجاء نه کوي.))

۶: عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قَالَ: لَهُ بَعْضُ الْمُشْرِكِينَ، وَهُمْ يَسْتَهْزِئُونَ بِهِ: إِنِّي أَرَى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةِ قَالَ: «أَجَلْ، أَمَرَنَا أَنْ لَا نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ، وَلَا نَسْتَنْجِيَ بِأَيْمَانِنَا، وَلَا نَكْتَفِيَ بِدُونِ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، لَيْسَ فِيهَا رَجِيعٌ وَلَا عَظْمٌ»([41])

((له سلمان فارسيﷺ نه روايت دی، هغه وايي چې ځينو مشرکانو د ټوکو په بڼه ورته ويل چې موږ وينو ستاسې ملګری (محمد رسول اللهﷺ) تاسې ته هر شي درښيي، تر دې چې د اودسماتي په اړه هم،سلمان ورته وويل هو! موږ ته يې امر کړی دی، چې (د

[38] : سنن النسائي (1 / 41) حكم الألباني: صحيح

[39] : سنن ابن ماجه (1 / 114)حكم الألباني: صحيح

[40] : صحيح مسلم (1 / 224)

[41] : سنن ابن ماجه (1 / 115) حكم الألباني: صحيح

اودسماتي پرمهال) قبلې ته مخ نه کوو، په ښي لاس به استنجاء نه کوو، (په استنجاء) درېيو نه به کم کاڼي نه کاروو، په هغو درېيو کې به هډوکی او خوشايي نه وي.))

د احنافو دليلونه

۱: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنِ الْحُصَيْنِ الْحُبْرَانِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ (42)

((چا چې سترګې تورولې؛ نو تاق سلايي دې وکاوري، که چا دغه کار وکړ؛ نو ښه يې وکړ او که وېې نه کړ؛ نو باک نه کوي، څوک چې استنجاء کوي؛ نو تاق کاڼي دې وکاروي، که چا دغه کار وکړ؛ نو ښه يې وکړه ګنې باک نه کوي.))

دغه روايت ضعيف دي، ځکه چې دوه مجهول راويان (الحصين الحبراني الحمصي او ابو سعيد) پکې دي.

۲: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: - لَيْسَ أَبُو عُبَيْدَةَ ذَكَرَهُ - وَلَكِنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ يَقُولُ: «أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الغَائِطَ فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَهُ بِثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ، فَوَجَدْتُ حَجَرَيْنِ، وَالتَمَسْتُ الثَّالِثَ فَلَمْ أَجِدْهُ، فَأَخَذْتُ رَوْثَةً فَأَتَيْتُهُ بِهَا، فَأَخَذَ الحَجَرَيْنِ وَأَلْقَى الرَّوْثَةَ» وَقَالَ: «هَذَا رِكْسٌ»(43)

ياني نبيﷺ په دوو کاڼو اکتفاء وکړه او درېيم يې ونه غوښت؛ نو له دې نه معلومېږي چې درې کاڼي کارول واجب نه دي، لکه دغه استدلال امام طحاوي کړی دی.

له دې حديث نه جمهور لاندېني ځوابونه کوي:

---

42 : سنن أبي داود (1 / 9)حكم الألباني: ضعيف، نيل الاوطار:۱۱٦\۱، الدين الخالص:٤٩٣\۱...

43 : صحيح البخاري (1 / 43)

لومړی ځواب: جمهور دا خبره له سره نه مني چې نبيﷺ دې په دوو کانو بسنه کړې وي او دريم دې يې نه وي غوښتی، بلکې همدغه پورتنی حديث په مسند احمد کې داسې الفاظ راغلي دي:

عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ لِحَاجَتِهِ، فَأَمَرَ ابْنَ مَسْعُودٍ أَنْ يَأْتِيَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، فَجَاءَهُ (1) بِحَجَرَيْنِ وَبِرَوْثَةٍ، فَأَلْقَى الرَّوْثَةَ، وَقَالَ: " إِنَّهَا رِكْسٌ، ائْتِنِي بِحَجَرٍ"([44])

((له ابن مسعودﷺ نه روايت دی، چې نبيﷺ اودسماتي ته لاړ؛ نو ابن مسعودﷺ ته يې د دريو کانو راوړو امر وکړ؛ نو هغه دوه کاني او يو خوشايي راووړ؛ نو خوشايي يې وغورځاوه او وېې فرمايل چې دا ګنده ګي ده، بل کاڼی راووړه.))

که څه هم دغه روايت ځينو منقطع بللی دی، چې له علقمه نه د ابو اسحق سماع نه ده ثابته؛ خو علامه کرابيسي د ده سماع ثابته کړې ده او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: وجدته موصولاً عند احمد والدارقطني من وجه اخر.(الدرايه:۷۸) ورجاله ثقات اثبات. او بيا يې د هغه سند ذکر کړی دی([45])

دويم ځواب: ابن مسعودﷺ چې دوه کاني او يو خوشايي راوړه؛ نو هغه په دې پوهېده، چې د استنجاء لپاره درې عدده ضروري دي، ځکه يې دوه کاني او يو خوشايي راووړ، ګنې همدغه دوه کاني به يې راوړې وای، په دريم يې څه کول.

دريم ځواب

---

[44] : مسند أحمد ط الرسالة (7 / 326): حديث صحيح دون قوله: "ائتني بحجر"، وهذه الزيادة تصح إن ثبت سماع أبي إسحاق - وهو السَبيعي - لهذا الحديث من علقمة بن قيس - وهو النخعي -، وقد أثبته الكرابيسي فيما نقله الحافظ ابن حجر في "الفتح " 257/1، وقال أبو حاتم وأبو زرعة: أبو إسحاق لم يسمع من علقمة شيئاً. ورجال الإسناد ثقات رجال الشيخين. معمر: هو ابن راشد.

[45] : الحق الصريح:۱۳۸\۲

د استنجاء لپاره د دريبو کاڼو کارولو حديثونه قولي دي او دغه پورتني حديث فعلي دي او کله چې د فعلي او قولي حديث تر منځ ټکر راشي؛ نو دا منل شوې قاعده ده، چې قولي ته به ترجيح ورکړ کېږي.

ځلورم ځواب

تقي عثماني صيب په درس ترمذي:(۱۱\۲۰۹) کې وايي چې که د ائْتِنِي بِحَجَرٍ زيادت والا روايت ثابت نه وي؛ نو هم دا اټکل شته، چې نبيﷺ خوشايي غورځولی وي او د ربيم کاڼی يې خپله راخيستی وي، ځکه عدم ذکر مستلزم نه دی عدم الشئ لره، واذا جاء الاحتمال، بطل الاستدلال.(46)

په استنجاء کې سنت طريقه

۱ : استنجاء په کاڼو، لوټو، ختو، تشناب کاغذ او اوبو ټولو باندې کېږي(47) خو افضلې پکې اوبه دي، که څه هم د اوبو په شتون کې هم په کاڼو لوټو استنجاء کېږي او کافي هم ده، هسې نه ده لکه چې عوام خلک فکر کوي، هغوی په اوبو استنجاء واجب بولي، سره له دې چې د اودسماتي پر مهال يې کاڼي او لوټې کارولې هم وي؛ خو بيا په لويه لار کې استنجاء ته ناست وي او عورت يې ښکاري، داسې نه ده پکار. (48)

۲ : په کاڼو يا لوټو د استنجاء په صورت کې تاق عدد کارول.

۳ : په ښي لاس اوبه اچول او پر چپ لاس ګندګي ايسته کول، ځکه پر ښي لاس له ګندګی ايسته کولو نه منع راغلې ده، لکه چې فرمايي:

عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قِيلَ لَهُ: قَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ قَالَ: فَقَالَ: أَجَلْ «لَقَدْ نَهَانَا أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ، أَوْ بَوْلٍ، أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ(49)

46 : الحق الصريح:۲\۱۳۹،۱۳۸

47 : الدين الخالص پښتو:۲\۳۱۷

48 : الدين الخالص (پښتو):۱\۳۶۳

49 : صحيح مسلم (1 / 223)

((له سلمان فارسيﷺ نه روایت دی، هغه وايي ده ته وویل شو، چې تاسې ته ستاسې نبي هر شی دربښيي، تر دې چې د اودسماتي په اړه؛ نو سلمان ورته وویل هو! بېشکه موږ يې د لوی او تش اودسماتي پر مهال قبلې ته له مخ کولو او په ښي لاس استنجاء کولو نه منع کړي يو.))

۴: پر اوبو باندې تر استنجاء کولو وروسته پر ځمکه لاس راښکل سنت طریقه ده، چې په دې کې ډېر حکمتونه دي، چې یو یې د لاس ښه پاکېدل دي. (50)

۵: د استنجاء لپاره یو لوښی او د پاتې اوداسه لپاره بل لوښی کارول.

۶: تر استنجاء کولو نه پس پر ځمکه لاس راښکل، لکه ابو هریرةﷺ فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْخَلَاءَ، أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِي تَوْرٍ أَوْ رَكْوَةٍ فَاسْتَنْجَى» ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ: «ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِإِنَاءٍ آخَرَ فَتَوَضَّأَ»(51)

((له ابو هریرةﷺ نه روایت دی، هغه وايي نبيﷺ به چې کله بیت الخلاء ته لاړ؛ نو ما به ورته د اوبو په یوه لوښي یا مشکیزه کې اوبه راوړې؛ نو په هغې به يې استنجاء وکړه او بیا به يې خپل لاس پر ځمکه راښکه، بیا مې یو بل لوښی ورته راووړ او پر هغې به يې اودس وکړ.))

۷: په چپ لاس استنجاء کول، لکه ابو قتادهﷺ فرمايي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَفَّسْ فِي الإِنَاءِ، وَإِذَا أَتَى الخَلاَءَ فَلاَ يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ، وَلاَ يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ»(52)

50: امین الفتاوی:۱۰۵\۱

51: سنن أبي داود (1 / 12) حكم الألباني: حسن

52: صحيح البخاري (1 / 42)

((کله چې په تاسې کې څوک اوبه څښي؛ نو په لوښي کې دې ساه نه اخلي او کله چې بيت الخلاء ته ننوځي؛ نو خپل ذکر له دې ښي لاس نه وروړي او نه دې پر خپل ښي لاس استنجاء کوي.))

۷: تر اوداسه وروسته خپل عورت ته اوبه شيندل، لکه حکم بن سفيان رض نه ثابت دي هغه فرمايي:

كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِذَا بَالَ يَتَوَضَّأُ وَيَنْتَضِحُ»[53]

((رسول اللهﷺ به چې کله تش اودس مات کړ؛ نو اودس به يې وکړ او خپل عورت ته به يې اوبه ور وياشلې))

د اوداسه څلور ګونې طريقې

په صحيح سنتو کې د اوداسه دغه لاندينۍ څلور طريقې نقل دي:

۱ : د اوداسه ټول اندامونه فقط يو يو ځل مينځل، لکه امام بخاري رح په خپل صحيح کې باب لګولی دی ((بَابُ الْوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً)) او تر دغه باب لاندې يې دغه حديث راوړی دی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً»[54]

((له ابن عباسؓ نه روايت دی، هغه فرمايي، چې نبيﷺ اودس وکړ د اندامونو په يو يو ځل مينځلو سره.))

۲ : بله طريقه يې دا ده، چې د اوداسه ټول اندامونه دوه دوه ځل مينځل، چې دا هم په صحيح حديث سره ثابته ده، لکه امام بخاري رح په خپل صحيح کې په دې اړه بل باب لګولی دی ((بَابٌ: الْوُضُوءُ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ)) او تر دغه باب لاندې يې دغه حديث راوړی دی:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ»[55]

---

53 : سنن أبي داود (1 / 43) حكم الألباني: صحيح

54 : صحيح البخاري (1 / 43)

((له عبدالله بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی، چې بېشکه نبي ﷺ اودس وکړ په دوه دوه ځله د اندامونو په مينځلو سره.))

۳: دریېمه طریقه دا ده، چې د اوداسه هر اندام درې درې ځله ومينځل شي، چې دا هم په صحيح حديث کې ثابت دي او په دې اړه هم امام بخاري په خپل صحيح کې باب لګولی دی ((بَابُ: الوُضُوءُ ثَلاَثًا ثَلاَثًا)) او تر دغه باب لاندې يې دغه حديث راوړی دی:

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَزِيدَ، أَخْبَرَهُ أَنَّ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ، رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ دَعَا بِإِنَاءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى كَفَّيْهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ، فَغَسَلَهُمَا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الإِنَاءِ، فَمَضْمَضَ، وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا، وَيَدَيْهِ إِلَى المِرْفَقَيْنِ ثَلاَثَ مِرَارٍ، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ إِلَى الكَعْبَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لاَ يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»[56]

((د عثمان رضي الله عنه غلام حمران وايي چې ما عثمان رضي الله عنه وليد، چې د اوبو لوښی يې راوغوښت، هغه يې درې ځل پر خپلو ورغوو را واړاوه، دواړه ورغوي يې ومينځل، بيا يې لوښي ته ښی لاس ورښکته کړ، خولې او پوزې ته يې اوبه واچولې، بيا يې مخ درې ځله ومينځه او درې ځله يې لاسونه تر څنګلو پورې ومينځل، بيا يې په سر مسح وکړه، بيا يې درې ځله تر پړکيو پورې پښې ومينځلې، بيا عثمان رضي الله عنه وويل چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي، چا چې زما د دې اوداسه پشان اودس وکړ او بيا يې دوه رکعته مونځ وکړ او له ځانه سره يې پټې خبرې ونه کړې(يانې چورتونه يې پکې ونه وهل) نو مخکني ټول ګناهونه به ورته وبښل شي..))

په دې ځای کې يوه کيسه رایاده شوه، هغه دا چې زمونږ يو کليوال ملګری و، په تانده ځوانۍ کې ډېر نېک او ديندار انسان و؛ خو د شک ښکار شوی و، هغه خوار به يو اودس څو ځله له سره کاوه، هغه داسې چې اودس به يې يو ځای ته ورساوه؛ نو شکمن به شو

---

[55] : صحيح البخاري (1 / 43)

[56] : صحيح البخاري (1 / 43)

چې هغه پلانکی اندام به مې درې ځله مينځلی وي کنه! نو بېرته به يې بيا اودس شروع کړ، چې بيا يې يو ځای ته ورساوه؛ نو بېرته به يې له سره کړ، بيا به يې داسې کار کاوه چې يو وړوکی هلک به يې په دې تمه کېناوه چې زما د اوداسه اندامونه شماره چې اودس مې پوره کړ؛ نو تا ته به څه خوراکي شيان درکړم او همدا سې به يې کول، يو ځل يې زه له ځانه سره د خوړ پر غاړه د اندامونو شمېرلو لپاره کېنولم، هغه په اوداسه شروع وکړه؛ خو زه په چورت کې بل چېرته لاړم؛ نو هغه چې اودس يو ځای ته ورساوه؛ نو زه يې وپوښتلم چې پلانکی اندام مې درې ځله ومينځه؟ ما ووې زما فکر نه و، هغه بيا شروع کړ او زه يې لړ ورټلم؛ خو په دويم ځل هم همدغسې کار وشو، لنډه دا چې بل ماشوم يې راووغوښت، ځکه چې هغه له دې مسئلې نه خبر نه و، چې په اوداسه کې اندامونه يو ځل مينځل فرض دي او څنګه به خبر شوی وای، ځکه شل پنځه ويشت کاله وړاندې زموږ په سيمه کې علم هومره خپور نه و لکه چې نن دی، ځکه نه دومره خپرندويه وسايل وو او نه دغسې حقپاله علماء چې د دين وړو وړو مسئلو ته يې هم د خلکو پام را واړاوه، الله ج دې د دغو شيخانو (شيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله، شيخ سردار ولي ثاقب...) په سرومال، اهل و عيال کې خير او برکت واچوي، چې د خالص دين له جزيياتو يې خلک خبر کړل، په هر صورت د نبيﷺ په هر کار کې د امت لپاره خير وي، ته وګوره په دې کار کې يې څومره خير دی، تولې وسوسې ورسره له منځه ځي، که دا تنوع نه وای؛ نو زياتره انسان به له وسوسو سره مخ وای.

۴- **څلورمه طريقه** (دا دوه ډوله ده)

لومړی ډول: دوه ځله لاسونه ومينځې، وروسې مخ ته (سره د خولې او پوزې) درې ځله اوبه واچوې، بيا دوه ځله تر څنګلو پورې لاسونه ومينځې، يو ځل پر سر مسحه وکړې او بيا پښې دوه ځله ومينځې، لکه له عبدالله بن زيدﷺ نه نقل دي، چې:

«أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ، فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَيَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَرِجْلَيْهِ مَرَّتَيْنِ»([57])

---

[57]: مصنف ابن أبي شيبة (1 / 16)

((ببشکه نبيﷺ اودس وکړ (په داسې شان) چې مخ يې درې ځله ومينځه او لاسونه يې دوه ځله، په سر يې مسحه وکړه او پښې يې دوه ځله))

دغه حديث په نورو الفاظو هم نقل دی، چې په لاندې ډول دي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ وَرِجْلَيْهِ مَرَّتَيْنِ وَوَجْهَهُ ثَلَاثًا»[58]

((له عبد الله بن زيدﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي رسول اللهﷺ اودس وکړ (په داسې شان)چې لاسونه يې دوه ځله ومينځل او پښې يې دوه ځله ومينځلې او مخ يې درې ځله ومنيځه))

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَيَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ، وَرِجْلَيْهِ مَرَّتَيْنِ، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ» وَأُرَاهُ قَالَ: وَاسْتَنْثَرَ[59]

((له عبد الله بن زيدﷺ نه روايت دی، چې ببشکه نبي اودس وکړ(په دې ډول چې) مخ يې درې ځله ومينځه او لاسونه يې دوه ځله ومينځل او پښې يې دوه ځله ومينځلې او په سر يې مسحه وکړه او زه فکر کوم چې دا يې هم وکړي وويله چې پوزه يې سوڼ کړه.))

دويم ډول:

هغه دا چې لاسونه تر مړوندونو پورې درې ځله ومينځې، ورپسې مخ درې ځله، بيا لاسونه تر څنګلو پورې دوه ځله، يو ځل په سر مسح کړې او ورپسې پښې دوه ځله ومينځې، لکه په حديث شريف کې راځي:

عَنْ عَمْرٍو، عَنْ أَبِيهِ، شَهِدْتُ عَمْرَو بْنَ أَبِي حَسَنٍ، سَأَلَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ، عَنْ وُضُوءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِتَوْرٍ مِنْ مَاءٍ، فَتَوَضَّأَ لَهُمْ وُضُوءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ص:49]، «فَأَكْفَأَ عَلَى يَدِهِ مِنَ التَّوْرِ، فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي التَّوْرِ، فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ، ثَلَاثَ غَرَفَاتٍ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ

---

58 : المنتقى لابن الجارود (1 / 29)

59 : صحيح ابن خزيمة (1 / 88) [التعليق] 172 - قال الأعظمي: إسناده صحيح

إِلَى المِرْفَقَيْنِ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَمَسَحَ رَأْسَهُ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ مَرَّةً وَاحِدَةً، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الكَعْبَيْنِ»([60])

((عمرو ابن حسن له عبد الله بن زيد نه د نبي ص د اوداسه په اړه پوښتنه وکړه؛ نو هغه د اوبو لوښی راوغوښت؛ نو هغوی ته يې د نبي ص د اوداسه (نقل) وکړ (هغه داسې چې) لوښی يې لاس ته راکوږ کړ، درې ځله يې لاسونه ومينځل، بيا يې لاس لوښي ته وردننه کړ خولې او پوزې ته يې درې ځله اوبه واچولې او پوزه يې سوڼ کړه، بيا يې لوښي ته لاس وردننه کړ او درې ځله يې مخ ومينځه، بيا يې تر څنګلو پورې لاسونه دوه ځله ومينځل، بيا يې لاس لوښي ته وردننه کړ او په هغې يې مسح وکړه په داسې شان چې له مخې نه يې لاسونه تر شا پورې بوتلل او بېرته يې له شا نه مخې ته راوستل يو ځل، بيا يې پښې تر پړکيو پورې ومينځلې.))

دغه پورتنۍ ټولې طريقې په احاديثو کې راغلي دي او صحيح ثابتې دي او په صحت يې د ټولو علماوو اجماع ده، لکه دغه اجماع علامه شوکاني په النيل الاوطار (۱\۱۷۵، ۲۱۵) کې نقل کړې ده په اوداسه کې د اوداسه ټول اندامونه فقط يو ځل مينځل فرض دي او درې ځله مينځل يې سنت دي، ځکه رسول اللهﷺ کله په يوه او دوه ځله مينځلو اکتفاء کړې ده، لکه چې مخکې تېر شو او که چېرته دوه او درې ځله د هر اندام مينځل واجب وای؛ نو بيا به يو ځل نه وای ثابت، يانې په يوه ځل د اندامونو وينځلو سره فرض پر ځای کېږي، دوه ځله مينځل يې منځی حد دی او درې ځله وينځل يې غوره دي، چې په دې سره په اوداسه کې کمال پيدا کېږي. (الحق الصريح:۲\۲۶۸، ۲۶۹)

د فرضو، سنتو او مستحبو اصطلاحګانې

قدرمنو لوستونکيو!

نبي کريمﷺ چېرته دا نه دي فرمايلي چې په پلاني کار کې دومره فرض، دومره سنت او مستحب دي، بلکې دغه اصطلاحګانې علماوو د دې لپاره کارولي دي، چې که له چا

---

[60] : صحيح البخاري (1 / 49)

نه په يو کار کې کومه برخه پاتې شي او يا ترې ناسمه ادا شي؛ نو حکم به يې څه وي، بېرته به يې راګرځوي که نه؟ که څه هم د علماوو دغه زيار امت ته ډېره اساني رامنځته کړې ده؛ خو تر څنګ يې ډېرې ستونزې هم رازېږولي دي، لکه د علماوو تر منځ اختلاف له همدغه ځايه سرچينه اخلي، بله بدګڼه يې دا ده چې ډېر خلک يې بې عمله او بې تقوی کړل، ځکه اوس زياترو خلکو ته مستحب عمل ډېر سپک او هسې بې ګټې شی ښکاري، هيڅ غور پرې نه ګروي، سره له دې چې څوک د مستحبو پابندي نه کوي؛ نو په سنتو کې ترې کمی واقع کېږي او که د سنتو لحاظ نه ساتي؛ نو بيا د فرضو په ادا کولو کې ترې سستي کېږي، چې دا له تجربې او مشاهدې ثابته ده او اوچت مؤمن دې ته وايي، چې فرض، واجب او سنت خو لا څه چې د مستحباتو هم اهتمام کوي او د رسول اللهﷺ د ټولو علمونو راخپلولو په کوښښ کې وي، همدا لامل دی چې صحابه کرامو په زياتره احکامو کې له نبي کريمﷺ نه دا پوښتنه نه ده کړې چې دا فرض شو که سنت، بلکې هغوی به د هر هغه کار کوښښ کاوه، چې رسول اللهﷺ به کاوه، يو ځل له ابن عمرﷺ نه چا پوښتنه وکړه، چې وتر واجب دي که نه؟ هغه ورته وفرمايل:

قَدْ أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ. فَجَعَلَ الرَّجُلُ يُرَدِّدُ عَلَيْهِ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يَقُولُ: أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ.[61]

((بېشکه وتر رسول اللهﷺ کړي دي او مسلمانانو کړي دي، هغه کس خپله پوښتنه بيا تکرار کړه؛ نو ابن عمرﷺ ورته (بيا تکراراً) وفرمايل چې وتر رسول اللهﷺ کړي دي او مسلمانانو هم کړي دي))

همدا راز په سير اعلام النبلاء کې له عبدالله بن عمر بن الرماح نه نقل دي، هغه فرمايي:

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ مُحَمَّدُ بنُ إِبْرَاهِيْمَ البُوْشَنْجِيُّ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بنَ عُمَرَ بنِ الرَّمَّاحِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى مَالِكٍ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ، ما في الصَّلاَةِ مِنْ فَرِيْضَةٍ؟ وَمَا فِيهَا مِنْ سُنَّةٍ؟ أَوْ قَالَ نَافِلَةٍ، فَقَالَ مَالِكٌ: كَلاَمُ الزَّنَادِقَةِ، أَخْرِجُوْهُ.[62]

---

[61]: موطأ مالك ت الأعظمي (2 / 171)

[62]: سير أعلام النبلاء ط الحديث (7 / 188)

((زه امام مالک ته ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه، چې په مانځه کې څومره فرض او څومره سنت يا نفل دي؛ نو امام مالک رحمه الله غوسه شو او ويې فرمايل چې دا د زنديقيانو (بې دينو خلکو) خبرې دي، شاګردانو ته يې امر وکړ (چې دا سړی هم راته زنديق ښکاري) ويې وباسئ.))

د اوداسه فرضونه

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ([63])

((ای مؤمنانو کله چې مانځه ته پاځئ؛ نو خپل مخونه ومنیځئ او خپل لاسونه تر څنګلو پورې ومینځئ او پر خپلو سرونو مسح وکړئ او پښې تر پړکیو پورې ومینځئ او که جنب یاست؛ نو ځانونه ښه پاک کړئ او که ناروغان یاستئ او یا په سفر یاسئ او په تاسې کې څوک له ژورې کندې (اودسماتي) نه راشي او یا يې مېرمن مسحه کړې وي (یانې کوروالی يې کړی وي) او اوبه نه مومئ؛ نو د پاکې ځمکې پر مخ تیمم ووهئ (په تیمم کې) د ځمکې له مخ نه خپل مخونه او لاسونه مسح کړئ، الله پر تاسې د تنګسیا اراده نه لري، لیکن الله ستاسې د پاکۍ اراده لري، د دې لپاره چې پر تاسې خپل نعمت پوره کړي، چې د هغه شکر وکړئ.))

همدا راز رسول اللهﷺ فرمایي:

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ» قَالَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ: مَا الحَدَثُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟، قَالَ: فُسَاءٌ أَوْ ضُرَاطٌ([64])

---

[63] : المائدة: 6

[64] : صحيح البخاري (1 / 39)

((له همام بن منبه نه روایت دی، هغه له ابو هریره﷛ نه دا خبره اورېدلې ده، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د بې اودسه کس مونځ تر هغې نه قبلېږي، چې اودس وکړي، په دې کې د خضر موت سیمې یو کس عرض وکړ، چې ای ابو هریرة بې اودسي څه ته وایي، هغه ورته وفرمایل: هوا او اواز))

لومړی فرض: د اوداسه نیت

تر هر څه له مخه نیت ضروري دی، ځکه نیت په هر کار کې هغه لازمي رکن دی، چې عادت او عبادت سره توپیروي، که بې نیته کومې چارې ترسره کېږي؛ نو هغه بیا عادت ګڼل کېږي، لکه ارواپوهان هم د عادت او سلوک تر منځ همدغه توپیر کوي او سلوک هر هغه فعالیت ته وایي چې تر شاه یې یو هدف وي او د اوداسه تر شا یو نه بلکې ډېر اهداف دي، ځکه یو خو اودس مستقل عبادت دی، چې دا مسئله به ان شاء الله وروسته تفصیلي راشي، بل زیاتره اودس د مانځه، تلاوت او د الله ﷻ د رضا لپاره وي؛ نو ځکه نیت پکې ضرور دی، که د اوداسه نیت ونه شي؛ نو هسې ظاهري پاکوالی په ورسره راشي؛ خو باطني پاکوالی ورسره نه راځي؛ نو ځکه نیت ډېر ضروري دی، ګنې بیا سړی له هغو غټو خیرونو څخه محرومېږي، چې الله سبحانه وتعالی په اوداسه کې ایښي دي، رسول الله ﷺ فرمایي:

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى ([65])

((ټول عملونه په نیتونو پورې تړلي دي او د هر چا لپاره هغه څه دي، چې د څه نیت یې کړی وي))

اوس بله پوښتنه دا را ولاړېږي، چې ښه نیت ضروري شو؛ نو نیت څنګه کول پکار دي؟ د دې اسان او ساده ځواب دا دی، چې اودس د اوداسه په نیت کول خپله د اوداسه نیت دی، چې دغه مخ و لاس ځکه مینځم چې شرعي اودس کوم، هسې له مخ نه

[65]: صحیح البخاري (1 / 6)

گردونه او دوړې نه پاکوم، بيا د دې لپاره په خوله الفاظ ويل نه شته، چې اودس کوم پاره د پاکۍ...ځکه هغه بيا بدعت کبرې، بس همدغه نيت شو چې ته لوټه راواخلې او يا د ويالې غاړې ته کېنې چې د مانځه وخت را روان دی او يا تلاوت کوم؛ نو اودس ته اړتيا ده، همدغه د اوداسه نيت شو او بس!!!

دويم فرض: د اوداسه په شروع کې بِسْمِ اللَّه ويل

د اوداسه په شروع کې بِسْمِ اللَّه ويل واجب دي او له بسم الله نه موخه توله بسم الله الرحمن الرحيم نه دی، بلکې فقط بِسْمِ اللَّهِ ويل دي، لکه نبي ﷺ فرمايي:

«لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرْ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ»[66]

((د هغه چا اودس نه شته، چې بِسْمِ اللَّه پکې ونه وايي))

همدا راز فرمايي:

وَعَن رَبَاح بن عبد الرَّحْمَن بن أبي سُفْيَان بن حويطب عَن جدته عَن أَبِيهَا قَالَ سَمِعت رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يَقُول: لَا وضوء لمن لم يذكر اسْم الله عَلَيْهِ[67]

---

[66]: سنن الترمذي ت شاكر (1 / 39): [حكم الألباني] : حسن

[67]: رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَاللَّفْظ لَهُ وَابْن مَاجَه وَالْبَيْهَقِيّ وَقَالَ التِّرْمِذِيّ قَالَ مُحَمَّد بن إِسْمَاعِيل يَعْنِي البُخَارِيّ أحسن شَيْء فِي هَذَا الْبَاب حَدِيث رَبَاح بن عبد الرَّحْمَن عَن جدته عَن أَبِيهَا قَالَ التِّرْمِذِيّ وأبوها سعيد بن زيد بن عَمْرو بن نفَيْل

قَالَ الْحَافِظ وَفِي الْبَاب أَحَادِيث كَثِيرَة لَا يسلم شَيْء مِنْهَا عَن مقَال

وَقد ذهب الْحسن وَإِسْحَاق بن رَاهَوَيْه وَأهل الظَّاهِر إِلَى وجوب التَّسْمِيَة فِي الْوضُوء حَتَّى إِنَّه إِذا تعمد تَركهَا أعَاد الْوضُوء وَهُوَ رِوَايَة عَن الإِمَام أَحْمد وَلَا شكّ أَن الْأَحَادِيث الَّتِي وَردت فِيهَا وَإِن كَانَ لَا يسلم شَيْء مِنْهَا عَن مقَال فَإِنَّهَا تتعاضد بِكَثْرَة طرقها وتكتسب قُوَّة وَالله أعلم!.

((رباح بن عبدالرحمن بن ابوسفيان بن حويطب له خپلې نيا نه او هغه يې له خپل پلار نه روايت کوي، چې ما له رسول اللهﷺ نه دغه ارشاد واورېده، چې فرمايل يې: د هغه چا اودس نه شته چې بِسْمِ اللّٰهِ يې ونه ويله.))

وَعَن أبي هُرَيْرَة رَضِي الله عَنهُ قَالَ قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لَا صَلَاة لمن لَا وضوء لَهُ وَلَا وضوء لمن لم يذكر اسْم الله عَلَيْهِ[68]

((له ابوهريرهﷺ نه روايت دی، هغه وايي چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: د هغه چا مونځ نه کېږي، چې اودس يې نه وي او د هغه چا اودس نه کېږي، چې د اوداسه په شروع کې بسم الله ونه وايي))

د اوداسه په شروع کې بِسْمِ اللّٰه د فقهاوو له نظره

پورتني دواړه حديثونه پر دې خبره دليل دي چې بِسْمِ اللّٰه ويل د اوداسه په شروع کې واجب او ضروري ده، لکه شاه ولي الله محدث دهلوي فرمايي:

وَهُوَ نَص على أَن التَّسْمِيَة ركن أَو شَرط[69]

((ياني دا حديث په دې مسئله کې نص دی، چې بِسْمِ اللّٰه ويل په اوداسه کې رکن او يا شرط دی))

---

[68] : الترغيب والترهيب للمنذري (1 / 99) رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه وَالطَّبَرَانِيّ وَالْحَاكِم وَقَالَ صَحِيح الْإِسْنَاد.

قَالَ الْحَافِظ عبد الْعَظِيم وَلَيْسَ كَمَا قَالَ فَإِنَّهُم رَوَوْهُ عَن يَعْقُوب بن سَلمَة اللَّيْثِيّ عَن أَبِيه عَن أبي هُرَيْرَة وَقد قَالَ البُخَارِيّ وَغَيره لَا يعرف لسَلمَة سَماع من أبي هُرَيْرَة وَلَا ليعقوب سَماع من أَبِيه انْتهى وَأَبُو سَلمَة أَيْضا لَا يعرف مَا رُوِيَ عَنهُ غير ابْنه يَعْقُوب فَأَيْنَ شَرط الصِّحَّة.

[69] : حجة الله البالغة (1 / 297)

دي هغه فرمايي:

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِذَا بَالَ يَتَوَضَّأُ وَيَنْتَضِحُ»[53]

((رسول الله ﷺ به چې کله تشي اوبه تيارې کړې نو اودس به يې وکړ او خپل عورت ته به يې اوبه وروشيندلې))

د اودا سه خلور ګونې طريقې

په صحيح سنتو کې د اودا سه دغه لاندينۍ څلور طريقې نقل دي

۱: د اودا سه ټول اندامونه فقط يو يو ځل مينځل، لکه امام بخاري رح په خپل صحيح کې باب لګولی دی ((بَابُ الوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً)) او تر دغه باب لاندې يې دغه حديث راوړی دی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً»[54]

((له ابن عباس ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي، چې نبي ﷺ اودس وکړ د اندامونو په يو يو ځل مينځلو سره))

۲: بله طريقه يې دا ده، چې د اودا سه ټول اندامونه دوه دوه ځل مينځل، چې دا هم په صحيح حديث سره ثابته ده، لکه امام بخاري رح په خپل صحيح کې په دې اړه باب لګولی دی ((بَابُ الوُضُوءِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ)) او تر دغه باب لاندې يې دغه حديث راوړی

علامه ابن الهمام حنفي هم په خپل کتاب فتح القدير(۲۰۱۱) کې د اوداسه په شروع کې بِسْمِ اللّٰه ويلو ته ترجيح ورکړې ده، همدا راز علامه عبد الحی لکهنوي په عمده الرعايه کې د اوداسه په شروع کې د بِسْمِ اللّٰه ويلو په اړه ليکي:

د اوداسه په شروع کې د بِسْمِ اللّٰه ويلو په اړه زموږ د احنافو تر منځ اختلاف دی او درې نظرونه يې وړاندې کړي دي:

۱: بِسْمِ اللّٰه د اوداسه په شروع کې مستحب ده؛ خو دا قول کمزوری دی، که څه هم د هدايې ليکوال دغه قول صحيح کړی هم دی.

۲: بِسْمِ اللّٰه ويل د اوداسه په شروع کې موکده سنت دي او دا د زياترو احنافو مذهب هم دی.

۳: بِسْمِ اللّٰه ويل د اوداسه په شروع کې واجب ده او دې قول ته ابن الهمام ميلان هم کړی دی او دغه قول له احاديثو او اصولو سره هم زيات موافق دی.(70)

علامه عبدالحی لکهنوي رحمه الله په احکام القنطره في احکام البسمله کې ليکي:

دغه دريم قول ډېر صحيح او ښه دی، ځکه چې د اوداسه په شروع کې بِسْمِ اللّٰه ويل واجب هم دي او ابن الهمام ورته ميلان هم کړی دی.(71)

همدا راز په فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلميه والافتاء کې دي:

تجب التسمية عند الوضوء ومن توضأ بدون تسمية ناسيا أو جاهلا بالحكم الشرعي فوضوءه صحيح، ومن تركها عمدا فوضوءه باطل على الصحيح من قولي العلماء لقوله صلى الله عليه وسلم: «لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه» أخرجه أحمد وأبو داود وابن ماجه من طرق كثيرة يشد بعضها بعضا.(72)

---

70 : عمدة الرعايه: ٦٣١١، د (امين الفتاوی: ١٠٩١١،١٠٨) په حواله

71 : احکام القنطره فی احکام البسمله:٣٣، ومجموعة الرسائل اللکهنوي:٦٥١١ (د امين الفتاوی په حواله) او د لا ډېر تفصيل لپاره فتاوی الدين الخالص:٤٥٥١١ کتلای شئ!

72 : فتاوى اللجنة الدائمة - 1 (5 / 219)

((په اوداسه کې بِسْمِ اللَّهِ ویل واجب دي؛ خو که له چا نه سهواً او یا د ناپوهی له امله پاتې شوه؛ نو اودس یې کېږي؛ خو که چا قصداً پرېښوده؛ نو د علماوو د یو قول له امله یې اودس باطل دی، د نبيﷺ د دې وینا له امله چې فرمایي: د هغه چا اودس نه شته، چې بسم الله پکې ونه وایي.))

دریم فرض: په ترتیب سره اودس کول.

په اوداسه کې ترتیب واجب دی، چې اول به تر مرووندونو پورې لاسونه ومينځي، بیا به مخ مینځي، وروسي به متې تر څنګلو پورې مینځي، بیا به په ټول سر مسح وکړي او په اخر کې به پښې ومینځي، په دې اړه دلایل:

۱ : الله سبحانه وتعالی د اوداسه په ایت کریمه کې مغسول د ممسوح په منځ کې داخل کړی دی او فرمایلي یې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ(73)

((ای مؤمنانو! کله چې مانځه ته پاځېږئ؛ نو خپل مخونه ومینځئ (له پوزې او خولې سره) او لاسونه تر څنګلو پورې ومينځئ، پر خپلو سرونو مسح وکړئ او پښې تر پړکو ومینځئ.))

۲ : د اوداسه په اړه چې څومره احادیث راغلي دي، هغه ټول د اوداسه د ترتیب پر وجوب دلالت کوي، ځکه په هیڅ یوه حدیث کې بې ترتیبه اودس نه دی نقل.

۳ : په ایت کریمه کې فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ د شرط جواب واقع شوی دی او کوم شی چې د شرط جواب وي؛ نو هغه مرتب وي.

پاتې شو هغه حدیث چې شیخ الباني رح (په تمام المنة، ص:۸۸) کې راوړی دی:

---

73 : المائدة: 6

«أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا وَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ ظَاهِرِهِمَا وَبَاطِنِهِمَا» وسنده صحيح.([74])

((رسول اللهﷺ ته د اوداسه اوبه راوړل شوې؛ نو اودس يې پرې وکړ (په داسې شان چې) درې ځله يې خپل ورغوي ومينځل، بيا يې درې ځله مخ ومينځلو، بيا يې درې ځله ليچې ومينځل، بيا يې درې ځله مضمضه او استنشاق وکړ او خپل سر يې مسح کړ او د دواړو غوږونو پاسې او دننه طرفونه يې مسح کړل او درې ځله يې پښې ومينځلې.))

علامه عظيم ابادي وايي که څه هم دغه پورتنې روايت د سند له پلوه روغ جوړ دی؛ خو شاذ دی او د هغو محفوظو روايتونو مقابله نشي کولای، چې په هغې کې مضمضة او استنشاق د مخ وينځلو نه مخکې ذکر شوي دي.([75])

څلورم فرض: پرلپسې د اندامونو وينځل

په المغني (١\١٥٨) کې دي چې د امام احمد له نظره واجب دی، چې په دې باندې تصريح هم کړې ده او د امام شافعي رح له دوو قولونو څخه هم يو قول دی او امام مالک رح وايي که چا په اوداسه کې قصداً پرلپسې اندامونه ونه مينځل؛ نو اودس يې باطل دی، ګنې نه دی.

په حديث شريف کې راځي:

«أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّ وَفِي ظَهْرِ قَدَمِهِ لُمْعَةٌ قَدْرُ الدِّرْهَمِ، لَمْ يُصِبْهَا الْمَاءُ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ»([76])

---

[74] : سنن أبي داود (1 / 30)، تمام المنة في التعليق على فقه السنة (1 / 88)، فتاوى الدين الخالص:٢\٣٢٨

[75] : عون المعبود:١\٤٧، د الدين الخالص:٢\٣٢٨ په حواله.

[76] : سنن أبي داود (1 / 45) حكم الألباني: صحيح

((نبيﷺ يو سړی وليد چې د هغه د پښې پاسني طرف کې د يوې روپۍ په اندازه ځای وچ پاتې شوی و، چې اوبه نه وې ورسېدلې؛ نو نبيﷺ ورته امر وکړ، چې مونځ او اودس دې دواړه راوګرځوي.))

عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، «إِنَّ عُمَرَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي قَدْ تَرَكَ عَلَى ظَهْرِ قَدَمِهِ مِثْلَ الظُّفْرِ، فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ وَضُوءَهُ وَصَلَاتَهُ»([77])

((له ابي قلابه نه روايت دی، چې عمرؓ يو سړی وليد چې په داسې حال کې يې مونځ کولو چې د خپلې پښې په پاسني طرف کې يې د نوک هومره ځای وچ پرېښی و؛ نو د اودس او مانځه دواړو راګرځولو امر يې ورته وکړ))

دغه حديثونه پر دې ښکاره دليل دی، چې په اوداسه کې موالات ضروري دی، که مولات ضروري نه وای؛ نو نبيﷺ به د اوداسه او مانځه راګرځولو امر نه کولای، بلکې د هماغه ځای وينځلو امر به يې ورته کړی وای، چې وچ پاتې شوی و؛ خو هسې يې ونه کړل، بلکې د ټول اوداسه او مانځه راګرځولو امر يې ورته ځکه وکړ، چې موالات پکې ضرور دی او دا خبره له هغه حديث سره په ټکر کې نه دی، چې امام بخاري (۴۰۱\۱) کې د ابن عمرؓ روايت راوړی دی، چې هغه په اوداسه کې تفريق کړی و، ځکه چې هغه د ضرورت له مخې دغسې کړي وو، چې په بازار کې يې اودس کاوه او اوبه ورسره خلاصې شوې؛ نو پښې يې په جومات کې ومينځلې.([78])

پنځم فرض: د اودس هر اندام يو ځل مينځل

د اوداسه فرض اندامونه يو ځل مينځل فرض، لکه امام بخاري په خپل صحيح کې باب لګولی دی ((بَابُ الْوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً)) او تر دغه باب لاندې يې دغه حديث راوړی دی:

---

[77] : مصنف ابن أبي شيبة (1 / 45)

[78] : فتح الباري:۲۹۸\۱، د الدين الخالص:۴۷۹،۴۸۰\۱، په حواله او د دې موضوع اړوند لا ډېر تفصيل د الدين الخالص فتاوی په همدغه مخ کې کتلای شئ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً»([79])

((له ابن عباس‌ﷺ نه روايت دی، چې نبيﷺ اودس وکړ(په داسې ډول چې) هر اندام يې يو يو ځل ومينځه.))

د اوداسه پيل

شپږم فرض: خوله او پوزه مينځل

که استنجاء ته اړتيا وه، چې له استنجاء نه وزګار شوې او نور اوداسه ته د اودس په نيت کېناستې، بِسْمِ اللَّه دې ووېله؛ نو بيا به اول لاسونه تر مړوندونو پورې ومينځې، تر هغې وروسته به خولې او پوزې ته اوبه واچوې، چې په دې کې دوه طريقې دي:

لومړۍ طريقه

په موټې کې اوبه را واخلې اول خوله (يو، دوه او يا درې ځله) ومينځې او تر هغې وروسته بيا پوزې ته په هماغه ترتيب اوبه واچوې او سونړ يې کړې.

دويمه طريقه

په موټي کې اوبه را واخلې، خوله او پوزه دواړه ګډ ومينځې چې په دې کې هم دوه طريقې دي:

لومړۍ

خولې او پوزې دواړو ته په يوه وار اوبه وراچوې، چې څه خولې او څه پوزې ته ځي.

فَمَضْمَضَ، وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثًا([80])

((نبيﷺ خولې او پوزې ته له يوه موټي نه اوبه واچولې او دغه کار يې درې ځله وکړه.))

---

[79]: صحيح البخاري (1 / 43)

[80]: صحيح مسلم (1 / 210):

دویمه

په موټي کې اوبه راخلې نیمې خولې ته اچوې او پاتې بیا پوزې ته اچوې.

دغه درېواړه طریقې شته، یوازې په افضلیت کې یې د علماوو تر منځ اختلاف دی، د احنافو په اند افضله طریقه دا ده، چې ړومبی درې ځله خوله ومینځې او بیا درې ځله پوزه ومینځې؛ خو د امام شافعي، امام احمد، امام مالک او امام بخاري له نظره یې دغه بله طریقه افضله ده، چې یو موټی اوبه راواخیستل شي، خولې او پوزې ته ګډې واچول شي.(81)

تر هغې وروسته په یو موټي کې اوبه را واخیستل شي او بل لاس ورسره ملګری شي او بیا مخ ته واچول شي.....

تر مړوندونو پورې د لاسونو مینځلو حکم

د لاسونو وینځلو په حکم کې د علماوو اختلاف دی، ابن عمر، ابو هریرة رضی الله عنهما، حسن بصري او امام احمد رحمهماالله د اوداسه په شروع کې تر مړوندونو پورې د لاسونو وینځل فرض بولي، ځکه وايي چې امر پرې راغلی او امر د وجوب لپاره وي، لکه دغه خبره ابن قدامه په المغني (۱۱۱\۱) کې راوړې ده، امام شافعي رح یې سنت ګڼي، امام مالک، اسحق او اوزاعي رحمهم الله ورته مستحب وايي، دوی وايي چې په حدیث کې امر هم پرې راغلی دی؛ خو تر څنګ یې (فانه لایدري) علت ذکر دی، چې پر استحباب دلالت کوي.

احناف بیا په دې مسئله کې تفصیل کوي، لکه چې په بحر الرایق کې دي، هغوی وايي که په لاس کې یقیني نجاست وي؛ نو وینځل یې فرض دي، که غالب ګومان وي؛ نو واجب، که شک وي نو بیا یې وینځل سنت دي او که شک هم نه وي؛ نو بیا وینځل مستحب دي.(82)

د پوزې او خولې ته اوبو اچولو حکم

81 : الحق الصریح:۲\۲٦۷

82 : الحق الصریح:۲\۲۵۵

په دې د ټولو علماوو اتفاق دی، چې خوله او پوزه کنګالول په اوداسه کې شته؛ خو اختلاف يې يوازې په وجوب او نه وجوب کې دی:

۱: امام شافعي، مالک، حسن بصري، حماد، قتاده، ربيعه، ليث، اوزاعي او يحی الانصاري په دې نظر دي، چې په اوداسه او غسل دواړو کې خولې او پوزې ته اوبه اچول سنت دي؛ خو له دوی سره پر خپله دغه خبره څه قوي دليل نشته، د دوی دليلونه او د هغې ځوابونه په لاندې ډول دي:

لومړی دليل

په حديث کې راغلي دي:

عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاء([83])

((لس شيان د فطرت برخه ده، بريت واړه کول، ږيره پرېښودل، مسواک وهل او پوزې ته اوبه اچول.))

يأنې مضمضه او استنشاق يې له فطرت نه شمارلي دي او فطرت سنتو ته وايي.

ځواب: فطرت له وجوب سره منافي نه دی، ځکه چې فطرت سنتو ته شامل دی، همدغه شان فرضو ته هم شامل دی.

د دوی دويم دليل:

عَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَقَصَّ هَذَا الْحَدِيثَ قَالَ فِيهِ: «فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللَّهُ ([84])

((له رفاعه بن رافع نه روايت دی، چې بېشکه رسول اللهﷺ دا حديث بيان کړ او په دې کې يې وفرمايل، داسې اودس وکړه، لکه الله سبحانه وتعالی چې درته امر کړی دی.))

يانې حواله يې په ايت باندې ورکړه او په آيت کريمه کې؛ خو د پوزې او خولې ذکر نه شته؛ نو ځکه واجب نه شو.

[83]: صحيح مسلم (1 / 223)

[84]: سنن أبي داود (1 / 228) حكم الألباني: صحيح

ځواب: په ایت کې مخ ذکر دی او مخ له پوزې خولې، سترګو وریزو، زنې او داسې نورو نه جوړ دی، که دغه ټول اندامونه ترې ایسته شي؛ نو مخ نه پاتې کېږي، همدا لامل دی، چې پوزه او خوله په مخ کې شامله ده او هغه قراني امر دغو ټولو ته شامل دی، بله دا چې که په ایت کې پوزه او خوله ذکر نه وي؛ نو په صحیحو احادیثو کې ذکر ده، لکه چې وروسته به راشي ان شاء الله! او همدغه پېغمبرﷺ د قران کریم د بیان لپاره راغلی و او هغه پوره تشریح کړې دی؛ نو مضمضه او استنشاق بعینه په فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللَّهُ کې داخل دي.

۲: د احنافو، سفیان ثوري او امام احمد نظر دا دی، چې خولې او پوزې ته په غسلو کې اوبه اچول واجب او په اوداسه کې سنت دي.

لومړی دلیل

دوی وایي په غسلو کې امر موکد راغلی دی، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

وَإِنْ كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ([85])

((که جنب یاست نو ځان پاک کړئ))

او په اوداسه کې ځکه واجب نه ده، چې په هغه حدیث کې سنت بلل شوي چې فرمایي:

عشر من سنن المرسلین

مضمضه او استنشاق هم په دغو لسو کې دي؛ خو حافظ په التلخیص الحبیر کې (۱\۱۱٤) کې وایي چې دغه حدیث په دې الفاظو نه دی ثابت.

که بلفرض ثابت هم شي؛ نو له دې نه مانا اصطلاحي اصولي سنت دي.

د احنافو دویم دلیل:

د ابن عباس‏رضي الله عنه مرفوع حدیث دی:

المضمضة والاستنشاق من السنة ([86])

((مضمضه او استنشاق له سنتو څخه دي))

85: صحیح البخاري (1 / 59)

86: د الحق الصریح په حواله : الدار قطني:۱\۸٥

ځواب

حافظ په التلخيص کې دغه روايت سخت کمزوری بللی دی، لکه په النيل:۱۷۳\۱، تحفة الاحوذي:۱۲۷\۱، اعلام الموقعين:۲۹۲\۲، اسمعيل بن مسلم پکې دی او هغه ضعيف دی، د ده په اړه علي بن المديني وايي : لايكتب حديثه، يحی بن معين ورته ليس بشئ ويلی دی، لکه په فتاوی الدين الخالص:۴۷۹\۱ کې وضاحت شته. ([87])

په دې اړه د جمهورو مذهب

امام احمد، اسحق، ابو عبيد، ابو ثور، داود ظاهري، ابن المبارک، ابن ابی ليلا، حماد بن ابی سليمان، ابو بکر بن المنذر او عام حديثپوهان مضمضة او استنشاق په غسلو او اودس دواړو کې فرض ګڼي، چې دليلونه يې په لاندې ډول دي:

۱: رسول اللهﷺ فرمايي:

«إِذَا تَوَضَّأْتَ فَمَضْمِضْ»([88])

((کله چې اودس کوې؛ نو خوله ورسره کنګالوه))

۲: «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ مَاءً ثُمَّ لِيَنْثُرْ([89])

((کله چې په تاسې خوک اودس کوي؛ نو په خپله پوزه کې دې اوبه واچوي او بيا دې يې سوڼ کړي))

همدا راز فرمايي:

۲: امر رسول اللهﷺ بالمضمضة والاستنشاق([90])

((رسول اللهﷺ (په اوداسه کې) خولې او پوزې ته د اوبو په اچولو امر کړی دی.))

۳: رسول اللهﷺ په اوداسه کې خولې او پوزې ته همېشه اوبه اچولي دي، هيڅکله يې نه دي پرېښې.(د لا ډېر تفصيل لپاره الحق الصريح:۲۶۳\۲ کتلای شئ!)

---

[87] : الحق الصريح:۲۶۳\۲

[88] : سنن أبي داود (1 / 36) حكم الألباني: صحيح

[89] : سنن أبي داود (1 / 35) حكم الألباني: صحيح

[90] : دار قطني د فتاوی الدين الخالص:۵۴۵\۲ په حواله.

اوم فرض: د مخ وينځل

په اوداسه کې د مخ وينځل د قرآني ايت او مبارکو احاديثو له مخې واجب دي او د مخ په وينځلو کې د ږيرورو سرېو لپاره د ږيرې خلالول هم دي، ياني په ږيره کې لمدې ګوتې ورننباسي چې مخ لوند شي او دغه خلال فقط يو ځل ضروري دی او په کومو حديثونو کې چې دوه او درې ځله راغلی دی، هغه ټول ضعيف دي، بيا په دې باب کې دوه مسئلې دي:

۱: د ږيرې وينځل

۲: د ږيرې خلال

د ږيرې وينځلو په اړه عطاء او ابو ثور رح فرمايي چې په ګڼه، اوږده او لنډه ږيره کې هيڅ فرق نه شته، بلکې د ټولو وينځل واجب دي او د دوی دليل قياس دی، ياني اودس د جنابت په غسلو قياسوي، چې د جنابت په غسلو کې دغه توپير نه کېږي؛ نو په اوداسه کې هم نه کېږي.

د جمهورو له نظره په دې کې تفصيل دی:

اوله برخه

که ږيره اوکده او ګڼه نه وي، ياني د مخ له دايرې نه بهر نه وي او د مخ څرمن ښکې ښکاري؛ نو د دې په وينځلو کې تقريباً د ټولو علماوو اتفاق دی، چې د دغسې ږيرې وينځل واجب (فرض) دي، که يو وېښته هم پکې وچ پاتې شو؛ نو اودس نه کېږي، بلکې بېرته به يې له سره کوي.(الفقه علی المذاهب الاربعه:۱/۶۰)

دويمه برخه

که ږيره ګڼه، اوږده او زوړنده وي؛ نو په دې کې دا ګنجايش شته، چې د مخ د دايرې وېښته ومينځل شي او کوم وېښته چې زوړوند وي، که وچ هم پاتې شي؛ نو باک نه لري، ياني د هغو وېښتو وينځل واجب نه دي؛ خو سنت دي.

د ږيرې وينځلو په اړه د احنافو او مالکيانو مذهب

په ګڼه ږيره کې چې يوازې ګوتې وردننه شي او ونه مينځل شي؛ نو هم روا ده؛ خو په دې اړه د احنافو څو روايتونه دي:

۱: د ږيرې څلورمه برخه مسح کول.

۲: درييمه برخه مسح کول.

۳: مخ سره مخامخ ويښته مسح کول.

٤: ټوله ږيره مسح کول.

٥: ورروی عدم وجوب الشئ (په دې کې هيڅ شی نه دی واجب) (؟)

دغه روايتونه يوازې د ګڼې ږيرې باره کې دي، ځکه لنډه او رنګۍ ږيره ټوله وينځل واجب دي، تر دې چې د مخ څرمن ته اوبه ورسېږي او که ږيره زوړنده وي؛ نو د هغې وينځل او مسح کول واجب نه دي، بلکې سنت دي.(91)

د شوافع او حنابله وو مذهب دا دی، چې که ږيره زړونده وي او يا د مخ له دايرې نه بهر وي؛ نو هم وينځل يې واجب دي، ځکه چې دا له مخ نه حسابېږي او فرضو په محل کې را زرغونه شوې ده، لکه دغه خبره په المغني کې ذکر ده.

خو دغه فرقونه يوازې علماوو کړي دي، په احاديثو کې د ګڼې، اوږدې او لنډې ږيرې توپيرونه نشته، بلکه علماوو د ابن عباس رض له هغه حديث نه استنباط کړی دی، چې فرمايي:

نبيﷺ د مخ لپاره يو موټی اوبه راواخيستې او بل لاس يې ورسره يو ځای کړ او مخ يې پرې ومينځه. (بخاري:۱\۲٦)

له عادت او مشاهدې نه معلومه ده، چې په يو ځل اوبو اچولو سره ګڼه ږيره ټول په ټوله نه لمدېږي، خامخا پکې څه ويښته وچ پاتې کېږي.

په دې اړه د احنافو او مالکيانو دليلونه

---

91 : (البحر الرايق۱\٤۱)

۱: نبي ص د ګڼې ږیرې خاوند و او له هغه نه د ږيرې باطن وينځل نه دي نقل، بلکې يوازې د ږيرې خلال ترې نقل دی.

۲: د ږيرې زړوند ويښته د فرضو له محل نه بهر دي، لکه د سر ويښته چې له سر نه راښکته شوي وي او دننه اوبه ورننويستل هم ضروري نه دي، چې وجه (مخ) د هغې څرمنې نوم دی، چې په هغې سره مواجهت حاصلېږي يانې له ورايه پرې نظر لګېږي او دننه څرمن خو داسې نه ده.

د شوافعو او حنابله وو دلايل

۱: دغه زړونده ږيره د فرضو په محل کې را زرغونه شوې ده او ږيره بلل کېږي، يانې لحيه (ږيره) ورته ويل کېږي؛ نو ځکه يې وينځل ضروري دي.

۲: په مسلم شريف کې د عمرو بن عبسه روايت دی:

«مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ فَيَتَمَضْمَضُ، وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ، وَفِيهِ وَخَيَاشِيمِهِ، ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ ([92])

((نشته په تاسې کې يو کس چې نږدې شي خپل اوداسه ته، خولې او پوزې ته اوبه واچوي او پوزه سوڼ کړي، مګر د مخ ګناهونه به يې راپرېوځي (يانې ورژېږي) او په دې روايت کې دا هم راغلي دي، چې له خيشوم (د پوزې له منځ) نه به يې ګناهونه ورژېږي، بيا مخ هغسې ومينځي لکه چې الله ورته امر کړی دی؛ نو د ږېرې له طرفونه نه به يې د مخ ګناهونه وغورځېږي.))

له دغه حديث نه معلومېږي، چې د ږيرې ټولې خواوې وينځل هم واجب او فرض دي او په دې قول کې احتياط دي، که څه هم په لومړي قول کې يو څه ګنجايش دی؛ خو دا خبره د اوداسه باره کې ده او په جنابت کې که ږيره هر ډول وي؛ نو ټوله به وينځې.

[92]: صحيح مسلم (1 / 570)

دويمه مسئله د ږيرې خلالول

په دې کې اختلاف دی، چې د ږيرې خلالول شته که نه؟

لومړی نظر: د ږيرې خلالول نه شته او په دې اړه راغلي ټول حديثونه ضعيف او باطل دي، لکه دغه نظر د ابن ابی خاتم، احمد، ابو زرعة او ابن قيم رحمهم الله دی.

لکه په نصب الرايه کې دي:

قَالَ ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ فِي كِتَابِ الْعِلَلِ سَمِعْت أَبِي يَقُولُ: لَا يَثْبُتُ فِي تَخْلِيلِ اللِّحْيَةِ حَدِيثٌ، انْتَهَى.([93])

((ابن حاتم وايي په كتاب العلل کې وايي، چې ما له خپل پلار نه اورېدلي دي، چې د ږيرې د خلال په اړه راغلي حديث ثابت نه دي.))

شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې فرمايي:

وَقَالَ أحمد وَأَبُو زُرْعَةَ: لَا يَثْبُتُ فِي تَخْلِيلِ اللِّحْيَةِ حَدِيثٌ.([94])

((احمد او ابو زرعة وايي چې د ږيرې خلال په اړه راغلی حديث ثابت نه دی.))

دويم نظر

زياتره علماء په دې نظر دي، چې په اوداسه کې د ږيرې خلالول شته، ځکه ډېر صحيح حديثونه پکې راغلي دي، لکه په نصب الرايه، تلخيص الحبير، تحفة الاحوذي او نيل لاوطار کې ذکر دي، ښايي هغو علماوو ته به دغه حديثونه نه وي رسېدلي، ځکه يې نه مني، هغوی په دې مسئله کې خطاء دي.

د ږيرې خلالولو حکم

کوم علماء چې په اوداسه کې د ږيرې د خلال قايل دي؛ نو هغوی هم د خلال په حکم کې يو نظر نه لري، بلکې نظرونه يې مختلف دي.

---

[93]: نصب الراية (1 / 26)

[94]: زاد المعاد في هدي خير العباد (1 / 191)

۱: یو نظر دا دی، چې په اوداسه کې د ږیرې خلال واجب دی او دغه نظر د اسحق بن راهویه دی، هغه فرمايي:

«إِنْ تَرَكَهُ نَاسِيًا أَوْ مُتَأَوِّلًا أَجْزَأَهُ، وَإِنْ تَرَكَهُ عَامِدًا أَعَادَ»([95])

((که په هېره یا تاویل سره یې پرېږدي؛ نو اودس یې وشو او که قصداً یې پرېښودل؛ نو بېرته به له سره اودس کوي.))

همدا راز علامه مقبلي هم په اوداسه کې د ږیرې خلال واجب ګڼي.([96])

۲: د شوافعو او ابو یوسف له نظره په اوداسه کې د ږیرې خلال سنت دی.

۳: د احنافو له نظره مستحب دي.

٤: د جمهورو له نظره هم مستحب دي.

د جمهورو دلیلونه

۱: د ږیرې د خلال په اړه په راغلیو روایتونو کې یوازې د نبي کریمﷺ افعال نقل دي او افعال وجوب نه پیدا کوي، بلکې استحباب راولي.

۲: په دې اړه چې په کومو روایتونو کې امر راغلی دی، چې فرمايي:

عَنْ أَنَسٍ يَعْنِي ابْنَ مَالِكٍ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا تَوَضَّأَ، أَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ»، وَقَالَ: «هَكَذَا أَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ»([97])

((له انس بن مالک نه روایت دی، چې نبي ص به کله اودس کاوه؛ نو یو موټی اوبه به یې را واخیستې؛ نو له زنې نه لاندې به یې ور داخلې کړې او د ږیرې خلال به یې پرې وکړ او ویه یې فرمایل چې رب راته دغسې امر کړی دی.))

په دې حدیث هم د ږیرې د خلال واجبوالی نه ثابتېږي، ځکه چې دا امر نبيﷺ ته شوی دی، امت ته نه دی شوی.

---

[95]: سنن الترمذي ت شاكر (1 / 46)

[96]: المنار:۱۰۵۱۱، د الحق الصريح: ۳۳٤۱۲ په حواله

[97]: سنن أبي داود (1 / 36) حكم الألباني: صحيح

۳: له نبي کریمﷺ نه اودس دېرو صحابه کرامو نقل کړی دی؛ خو د ړیرې خلالو حدیثونه فقط له څو صحابه کرامو نه نقل دی، که دا واجب وای؛ نو له هغو ټولو صحابه کرامو نه به د اوداسه په طریقه کې نقل وای؛ خو هسې نه ده؛ نو له دې نه يې استحبابیت ثابتېږي.

د لا دېر تفصیل لپاره (الحق الصریح:۳۳٤\۲) کتلای شئ، هلته د هر لوري دلایل او ځوابونه شته، چې ما د لنډون په موخه پر همدې بسنه وکړه.

اتم فرض: تر څنګلو پورې لاسونه مینځل

په اوداسه کې د څنګلو مینځلو فرضیت په قرآني ایت ثابت دی او په فرضیت کې یې هیڅ اختلاف نه شته، لکه چې الله سبحانه وتعالی د اوداسه په لړ کې فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِفَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ([98])

((کله چې مانځه ته پاڅئ نو خپل مخونه ومینځئ او لاسونه تر څنګلو پورې))

د متو په وينځلو کې د علماوو تر منځ تر منځ فقط په دې کې اختلاف دی، چې ایا څنګلې پکې داخل دي که نه؟ او راجحه خبره دا ده چې څنګلې هم پکې داخل دي.

نهم فرض: د سر مسح

د سر مسح په اوداسه کې فرض ده او فرضیت یې په قراني ایت ثابت دی، لکه الله سبحانه وتعالی د اوداسه په لړ کې فرمايي:

وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ ([99])

((پر خپلو سرونو باندې مسح وکړئ))

د سر په مسحه کولو کې دوه کیفیته او درې طریقې راغلې دي، چې په لاندې ډول دي:

رومبی طریقه

یوه دا ده چې له مخې نه دواړه لاسونه راښکل شروع کړې، تر دې چې شا ته ورسېږي او بېرته به دواړه لاسونه هماغسې مخې ته لاسونه را ورسوې او په دې کې څه خاص کیفیت نه شته، که څه هم ځینې فقهاء په دې کې له تکلیف نه ډکه طریقه ښيي چې د دواړو لاسونو درې درې ګوتې سره یو ځای کړې او دواړه غټې ګوتې به پورته ونیسې،

---

[98] : المائدة: 6

[99] : المائدة: 6

تر دې چې څټه پورې ورسېږي... خو دغه طريقه په نبوي سنتو کې نه ده ثابته، بلکې هسې په زوره ځان زورول دي.

دويمه طريقه

بله دا ده چې د سر له منځ نه مسحه شروع کړې، لکه د ربيع په روايت کې راغلي دي:

عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ [ص:32]، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ عِنْدَهَا فَمَسَحَ الرَّأْسَ كُلَّهُ، مِنْ قَرْنِ الشَّعْرِ كُلَّ نَاحِيَةٍ، لِمُنْصَبِّ الشَّعْرِ، لَا يُحَرِّكُ الشَّعْرَ عَنْ هَيْئَتِهِ»([100])

((بېشکه رسول الله د ربيع بن معوذ بن عفراء په خوا کې اودس وکړ (په داسې شان چې) ټول سر يې مسح کړ (له هغه ځای نه چې د حيواناتو ښکرې پکې راټوکېږي) ټول شا وخوا چې وېښتان له خپلې بڼې نه ونه خوځېږي(ياني ړمنځ يې ورانه نه شي)))

خو دغه طريقه يې په هغه صورت کې ده، چې سر ږمنځ شوي وي او ږمنځ يې کډوډېږي، له دې نه علاوه د سر په مسحې په اندازه کې درې حده راغلي دي:

(١) د ټول سر مسح کول. (٢) د پټکي (پګړۍ) په صورت کې نيم سر مسح کول او نيم پټکی مسح کول. (٣) يوازې پټکی مسح کول، پرته له وېښتو نه.

د سر د لومړي ډول مسحې دليل:

امام بخاري په خپل صحيح کې باب ايښی دی:

بَابُ مَسْحِ الرَّأْسِ كُلِّهِ

((د ټول سر مسح کولو په اړه باب))

او بيا يې د عبد الله بن زيد حديث راوړی دی:

عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى المَازِنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، وَهُوَ جَدُّ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى أَتَسْتَطِيعُ أَنْ تُرِيَنِي، كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ؟ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ: نَعَمْ، فَدَعَا بِمَاءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ مَرَّتَيْنِ، ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلاَثًا، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا، ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ إِلَى المِرْفَقَيْنِ، ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ، فَأَقْبَلَ

[100]: سنن أبي داود (1 / 32) حكم الألباني: حسن

بِهِمَا وَأَدْبَرَ، بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ حَتَّى ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ، ثُمَّ رَدَّهُمَا إِلَى المَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ"([101])

د دې حديث ژباړه مخکې تېره شوې ده.

د سر د دويم ډول مسحې دليل:

عَنْ ابْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ، وَمُقَدَّمِ رَأْسِهِ وَعَلَى عِمَامَتِهِ»([102])

((د مغيره زوی له خپل پلار نه روايت کوي، چې بېشکه نبي ص په موزو مسح وکړه او د سر په مخکنۍ برخه او پټکي پاندې مسح وکړه.))

د سر د درېيم ډول مسحې دليل:

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى عِمَامَتِهِ وَخُفَّيْهِ»([103])

((جعفر بن عمرو بن اميه له خپل پلار نه روايت کوي، هغه وايي چې ما نبي ص (په داسې حال کې وليد چې) په پټکي او جورابو مسحه کوله.))

د سر مسح کولو د اندازې په اړه د علماوو اختلاف

د سر د مسحې په فرضيت د ټولو علماوو اتفاق دی او په دې هم اتفاق دی، چې د ټول سر مسح غوره ده؛ خو اختلاف فقط په دې ټکي کې دی، چې د سر څومره اندازه مسح کول فرض دي، چې له هغې نه غير اودس نه کېږي؛ نو په دې کې درې نظرونه دي:

۱: امام شافعي، سفيان ثوري رحمهما الله په دې نظر دي، چې که يو يا دوه وېښته هم مسح شو؛ نو اودس وشو او فرض ادا شو؛ خو دا ډېر سخت کمزوری نظر دی، چې هيڅ دليل پرې نه شته.

---

101 : صحيح البخاري (1 / 48)

102 : صحيح مسلم (1 / 231)

103 : صحيح البخاري (1 / 52)

۲: د امام ابو حنيفه رحمه الله نظر دا دی، چې د سر څلورمه برخه مسح کول فرض دي هغه که د سر هر طرف وي.

۳: امام اوزاعي، ليث بن سعد او امام نووي رحمهم الله په دې نظر دي، چې د سر ځکنی برخه به مسح کېږي؛ خو دغه درېواړه نظرونه د سر د ځينې برخې مسحې کولو په اړه دي.

٤: امام احمد، امام مالک او امام بخاري رحمهم الله د ټول سر مسح فرض ګڼي او همدا نظر د منلو وړ هم دی او دليلونه يې دا دي:

الله سبحانه وتعالی د اوداسه په لړ کې فرمايي:

وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ([104])

((تاسې پر خپلو سرونو باندې مسح وکړئ او پښې ومينځئ.))

ناشنا خبره خو دا ده چې د سر او پښو دواړو په اړه په يوه ايت کې په يو شان الفاظو امر راغلی دی، چې مسح يې کړئ؛ خو د پښو په وينځلو کې هېڅوک اختلاف نه کوي، چې د پښو دريمه او څلورمه برخه وينځل فرض دي، بلکې وايي که په پښه کې يو وېښته هم وچ پاتې شو؛ نو اودس نه کېږي؛ خو د سر که دې څلورمه برخه مسحه کړه؛ نو هم اودس دې وشو!!!؟ بلکې زياتره عوام د سر څلورمه برخه مسح کول داسې فرض ګڼي چې خامخا به څلورمه برخه مسحه کوې، که له دې نه زياته کړه، ګڼې اودس دې ونه شو، او داسې هم نه وايي چې که څلورمه برخه دې مسح کړه؛ نو فقط اودس دې وشو، ګڼې افضله دا ده چې ټول سر مسح شي، سره له دې چې په قرآن کريم کې څه داسې دليل نه شته، چې د سر د ځينې برخې مسح کولو جواز ترې ښکاره شي.

همدا راز د تيمم په اړه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ([105])

---

[104]: المائدة: 6

[105]: النساء: 43

((که اوبه مو نه موندلې؛ نو په پاکه خاوره تیمم ووهئ او (د تیمم وهلو پر مهال) پر خپلو مخونو او لاسونو مسح وکړئ.))

په دې ایت کریمه کې هم الله سبحانه وتعالی د (مسح) او (باء) ذکر کړی دی؛ نو دا چې د تیمم ایت د مخ د ځینې برخې په مسح کولو دلالت نه کوي، سره له دې چې تیمم د اودس ځای ناستی دی او دا په خاورو سره مسح ده، تکرار هم پکې مشروع نه دی؛ نو دغه ایت کریمه په اوداسه کې څنګه د سر د ځینې برخې په مسح کولو دلالت کولای شي!؟.

بله ډېره عجبیه خبره، هغه دا چې که ټول سر دې مسح کړ؛ نو د ټولو علماوو له نظره دې اودس وشو او ښه وشو؛ خو د ځینې سر مسح کولو په صورت کې ډېر علماء وايي چې اودس دې ونه شو، یانې د ټول سر مسحې په صورت کې هېڅوک درته دا نه شي ویلای چې اودس دې نه دی شوی او بې اودسه دې مونځ وکړ؛ خو که د سر څلورمه برخه دې مسح کړه؛ نو زیاتره علماء وايي چې اودس دې نه دی شوی؛ نو ښه دا نه ده، چې سړی ټول سر مسح کړي او په دې کې څه تکلیف دی، چې لږه برخه یې مسح کولای شي او ټول سر نه شي، که دا شیطاني وسوسه او دسیسه نه وي؛ نو که د ټول سر مسح مستحب هم وي؛ نو ولې نه یې کوې، ستا له مستحبو سره دښمني ولې ده!!!؟[106]

106 :الحق الصریح:۲|۷۱،۷۲،۷۳،۷۴،۷۵، (الدین الخالص (پښتو):۱|۴۵۷

د سر مسحې لپاره اوبه راخیستل

په دې کې اختلاف دی، چې د سر مسح کولو لپاره نورې اوبه راخیستل ضروري دي او که په هماغو اوبو به يې مسح کوې، چې په لاسونو پورې وي، یانې د ځنګلو مینځلو نه تیار لاسونه لامده وي، پر هماغه لوندوالي به سر مسح کوې؟ په دې کې دوه نظره دي:

لومړی نظر د امام ابو حنیفه او امام شافعي رحمهماالله دی، دوی وایي چې نورې اوبه به نه راخلې، بلکې پر هماغو اوبو به سر مسح کوې، چې له ځنګلو مینځلو نه پاتې وي او دا د جمهورو مذهب هم دی او مبارکپوري صاحب ورته په تحفة الاحوذي (۱/۷٤) کې تر جیح هم ورکړې ده.

د دوی دلیل:

دوی د ابْنُ لَهِيعَةَ په روایت د عبدالله بن زید رض په حدیث کې دغه الفاظ وړاندې کوي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ، وَأَنَّهُ مَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غُبْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ.([107])

((له عبدالله بن زیدﷺ نه روایت دی، چې ده نبيﷺ په اودس کولو ولید، چې سر يې مسح کړ پر هغو اوبو چې د لاسونو له اوبو نه زیاتې پاتې شوې وې.))

د دویم نظر د پلویانو دلیل:

عَنِ الرُّبَيِّعِ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ بِرَأْسِهِ مِنْ فَضْلِ مَاءٍ كَانَ فِي يَدِهِ» ([108])

((له ربیعﷺ نه روایت دی، چې ببشکه نبيﷺ سر مسح کړ په هغو اوبو سره چې په لاس پورې پاتې شوې وې.))

---

107 : سنن الترمذي ت شاكر (1 / 51) حكم الألباني: صحيح

108 : سنن أبي داود (1 / 32) حكم الألباني: حسن

په ښکاره ډول په دې حديثونو کې تکر ښکاري؛ خو شيخ مبارکپوري رح په تحفة الاحوذي(٤٨١١) کې فرمايي چې د دې حديثونو تر منځ تکر نه شته، ځکه چې لومړنی روايت له عبدالله بن زيدﷺ نه د عمرو بن الحارث په واسطه نقل دی او دويم د ابن لهيعه په واسطه نقل دی، سره له دې چې عمرو بن الحارث ثقه (باوري) او ابن لهيعه ضعيف دی؛ نو د ابن لهيعه روايت د عمرو بن الحارث په پرتله کمزوری شو او امام ترمذي هم دې خبرې ته اشاره کړې ده، لکه چې فرمايي:

وَرِوَايَةُ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ حَبَّانَ أَصَحُّ، لِأَنَّهُ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، وَغَيْرِهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ لِرَأْسِهِ مَاءً جَدِيدًا وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ رَأَوْا: أَنْ يَأْخُذَ لِرَأْسِهِ مَاءً جَدِيدًا([109])

لنډيز

لومړنی (په نويو اوبو د سر مسح کولو) روايت قوي او د نويو ابو راخيستو روايت د هغې پرتله کمزوری دی او که صحيح هم شي؛ نو فقط جواز ثابتولای شي، نه افضليت، بلکې غوره والی په دې کې دی، چې د څنګلو مينځلو نه په پاتې شويو اوبو سر مسح شي.([110])

د سر په مسح کې د غوږونو مسح هم ده، چې په سر دې لاس راښکه او بېرته دې هغه ځای ته را ورساوه، چې د سر مسح دې ترې شروع کړې وه، ياني بېرته دې مخې ته را ورساوه؛ نو بيا به د غوږونو په شا غتې ګوتې راکاږې او د شهادت ګوتې به د غوږونو په منځ کې هم راکاږې؛ خو اوس پوښتنه دا ده، چې د غوږونو مسح کولو لپاره به بيلې اوبه راخلې او که نه په هماغو اوبو به يې مسح کوې، چې له څنګلو نه پاتې وې او سر دې پرې مسح کړ؟ په دې کې صحيح خبره دا ده، چې نورې اوبه راخيستل پکې نه شته، بلکې د لاسونو په هماغه زاړه لوندوالي به يې مسح کړې او د ليلونه يې دا دي:

نبي ص فرمايي چې غوږونه د سر برخه ده.

---

109 : سنن الترمذي ت شاكر (1 / 52) حكم الألباني: صحيح

110 : الحق الصريح:٣٦٢١٢

۱: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَيَدَيْهِ ثَلَاثًا، وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ، وَقَالَ: «الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ» (111)

((له ابي امامةﷺ نه روایت دی، هغه فرمايي، چې نبي ص اودس وکړ (په داسې شان چې) درې ځله يې مخ ومینځه او درې ځله يې لاسونه ومینځل او په سر يې مسح وکړه او ويې فرمايل چې غوږونه له سر نه دي(ياني د سر برخه ده.))

له دې صحيح مرفوع حديث نه معلومېږي، چې غوږونه به د سر له مسحې نه پس په هماغو اوبو مسح کېږي، چې د سر له مسحې نه پاتې وي او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي په دې اړه اته حديثونه راغلي دي.

۲: کومو صحابه کرامو چې له نبي کريم ص نه اودس نقل دی، په هغو کې هېچا دا نه دي ويل چې نبي ص د غوږونو مسح کولو لپاره بېلې اوبه راخيستې دي، که هم له ابن عمر رض نه دا نقل دي، چې هغه د خپلو غوږونو مسح کولو لپاره تازه اوبه راخيستې دي؛ خو هغه موقوف روايت دی.

د غوږونو مسح کولو حکم

ظاهره دا ده، چې د غوږونو مسح کول سنت دي، ځکه د غوږونو مسح په فعلي حديثونو کې راغلې ده او فعلي حديث پر وجوب دلالت نه کوي.(112)

111: سنن الترمذي ت شاکر (1 / 55) حکم الألباني: صحيح

112: الدين الخالص (پښتو):۳۲۷\۱۲

د څټ مسح

د جمهورو علماوو له نظره د څټ مستقله مسح بدعت ده او لامل يې دا دی، چې په دې اړه هيڅ صحيح حديث نه شته، لکه دغه وينا د امام شافعي او امام احمد رحمه الله ده، همدا راز امام نووي رحمه الله فرمايي:

لمْ يَصِحَّ عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِيهِ شَيْءٌ، قَالَ: وَلَيْسَ هُوَ بِسُنَّةٍ بَلْ بِدْعَةٍ.[113]

همدا راز شيخ الاسلام علامه ابن قيم رحمه الله په دې اړه فرمايي:

وَقَالَ ابْنُ الْقَيِّمِ فِي الْهَدْيِ: لَمْ يَصِحَّ عَنْهُ فِي مَسْحِ الْعُنُقِ حَدِيثُ أَلْبَتَّةَ.[114]

خو احناف د څټ مسح مستحبه بولي، لکه دغه خبره رشيد احمد لدهيانوي صاحب په احسن الفتاوی(۲\۱۲) کې کړې ده او پر دې سربېره د حنفي فقهې په نورو کتابونو، لکه کنز(۳\۱)، شرح وقايه (۱\۶۹) او داسې نورو کې ذکر ده او د څټ د مسحې په استحباب يې له نيل الاوطار نه پنځه روايتونه نقل کړي او ورسره يې دا هم ويلي دي، چې که څه هم دغه روايتونه کمزوري دي؛ خو په فضايلو کې کمزوري روايتونه هم په کار راّځي، لکه دغه خبره عبد الحی لکهنوي صاحب هم (تحفة الطلبة فی تحقيق مسح الرقبة:۱\۲۵٤) کې دا خبره کړې ده، چې د څټ په مسح کې قولي او فعلي روايتونه شته، اګر که د سند له پلوه کمزوري دي؛ خو که څا وکړه؛ نو مستحب ده.

خو دلته دا خبره په پام کې نيول پکار دي، چې ضعيف هله يو د بل شاهد ګرځي او حسن درجې ته رسېږي، چې ضعف يې لږ وي او د سند پوه ځای کې دغه ضعف نه وي،لکه دا خبره د مصطلح الحديث علماء بيانوي.

---

[113] : نيل الأوطار (1 / 206)

[114] : نيل الأوطار (1 / 206)

د څټ د مسحې په اړه راغلي حديثونه او د هغې تجزيه

۱: عن مصرف بن عمرو يبلغ به كعب بن عمرو قال: رايت رسول الله ص توضا فمسح لحيته وقفاه (اخرجه ابن السكن فی كتاب الحروف وابوداود:۱\۱۹) و احمد

په دې حديث کې ليث بن ابی سليم دی او هغه په اتفاق د محديثينو ضعيف دی، لکه دغه خبره امام نووي په تهذيب الاسماء واللغات کې کړې ده، همدا راز مصرف بن عمر يو مجهول راوي دی او دغه خبره ابن القطان په النيل الاوطار (۱\۲۰۳)کې کړې ده.[115]

۲: عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ بِيَدَيْهِ عَلَى عُنُقِهِ وُقِيَ الْغُلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[116]

دا حديث موضوعي دی، ياني له ځانه جوړ شوی دی، لکه ابن حجر په التقريب ۱۳۰\۲، رقم:٦٥٥٦) او سلسلة:۱٦۷\۲، رقم:٦٤٤) کې او داسې نورو څو حديثپوهانو دغه حديث موضوعي بللی.

۳: «عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ: مَنْ مَسَحَ قَفَاهُ مَعَ رَأْسِهِ وُقِيَ الْغُلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» [117]

علامه عيني د هدايې په شرح کې وايي که څه هم دغه حديث موقوف دی؛ خو د مرفوع حکم لري، ځکه په دې بيان ځای کې د رايې لپاره هيڅ ځای نه شته؛ خو دغه خبره له دوو وجو نه غلطه ده يوه دا چې موسی بن طلحه صحابي نه دی، لکه دا خبره (الاصابة:۳۱۵\٦ ابن حجر) نو دا تابعي او يا تبع تابعي دی؛ نو ځکه يې خبره باطله ده.

دويمه وجه: د دې په سند کې المسعودي راوي دی او پر هغه اختلاط راغلی و، لکه دغه خبره په التلخيص الحبير(۹۲\۱) او السلسلة:۹۸\۱، رقم:٦۹) کې دي او د مختلط راوي باره کې قانون دا دی، چې له اختلاط نه مخکې روايتونه به يې قبول او وروستني او يا

---

115 : الحق الصريح:۲۸۸\۲

116 : نيل الأوطار (1 / 207)

117 : نيل الأوطار (1 / 206)

شکمن چې دا به مخکني وي که وروستني؛ نو هغه به يې د منلو نه وي.(نهاية الاغتباط بمن رمى من الرواة بالاختلاط،ص:٣٤)

٤: رواى الديلمي فى مسند الفردوس من حديث ابن عمر مرفوعاً: مسح الرقبة امان من الغل يو م القيمة)

په دې روايت کې محمد بن عمرو الانصاري ابو سهيل البصري دى او هغه د محدثينو په اتفاق کمزورى دى، لکه دا خبره په (الموضوعات الكبرى:٦٣) ده، همدا لامل دى چې امام نووي رحمه الله دغه حديث موضوعي (له ځانه جوړ شوى) بللى دى او د څټ مسح يې بدعت بللې ده.(المجموع:٤٦٥\١) امام سيوطي په موضوعي احاديثو کې شمارلى دى، فى ذيل الاحاديث الموضوعة، ص:٢٠٣، الضعيفة:٩٧\١، رقم:٦٩، وكشف الخفاء للعجلوني:٢٠٨\٢

٥: عَنْ لَيْثٍ،عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ رَأْسَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً حَتَّى بَلَغَ الْقَذَالَ [118]

په دې اړه عظيم ابادي رحمه الله فرمايي:

دا حديث ضعيف دى، ځکه ليث بن سليم پکې دى او هغه متروک دى.

نو په دغسې روايتونو استحباب نه ثابتېږي، بلکې د څټ مستقله مسح بدعت ده او دا لا څه چې عوام خلک د سر له مسحې سره له څټ نه علاوه ان څنګلې هم مسح کوي، ته دې ظلم ته ګوره چې د ټول مسح فرض ده؛ نو هسې دوه درګوتې مخامخ پيکې ته ور وړي او نوره پرېږدي، ته به واي ډېر ګران کار دى، سم په غره ختل دي او چې کومه برخه په دين کې نه شته هغه ورته شيطان خومره ښکلې او اسانه کړې ده، په ډېر تکلف سره څټ او څنګلې مسح کوي او بيا پسې د ګوتو سرونه هم ښکلوي؛ نو ټول قبيح بدعتونه ځان ترې ساتل پکار دي.[119]

118 : سنن أبي داود (1 / 32) حكم الألباني: ضعيف

119 : الحق الصريح:٢٨٩\٢

لسم فرض: د پښو مينځل

په اوداسه کې د پښو مينځلو فرضيت په قرآني ايت ثابت دی ، لکه الله سبحانه وتعالی د اوداسه په لړ کې فرمايي:
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِفَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِوَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ([120])

((کله چې مانځه ته پاځئ نو خپل مخونه ومينځئ او لاسونه تر څنګلو پورې او پښې تر پړکيو پورې))

په اوداسه کې د پښو منيځلو په فرضيت کې د اهل سنتو علماوو تر منځ هيڅ اختلاف نه شته، پرته له شيعه ګانو نه چې هغوی د پښو مينځل فرض نه ګڼي؛ خو د هغوی اختلاف څه ارزښت نه لري، ځکه هغوی مسلمانان نه دي؛ نو که له ټول اوداسه نه منکر شي زموږ پرې څه!!!

په جورابو مسح

په جورابو مسح کې دوه ډوله شرطونه دي، چې يو شرعي او بل يې اجتهادي دي، شرعي شرطونه پکې څلور دي، که دغه څلور واړه شرطونه په پام کې ونيول شي؛ نو بيا پرې مسح کېږي او هيڅ باک نه لري، هغه شرطونه دا دي:

۱: پښې به پاکې وي، لکه په حديث شريف کې راځي:
فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ»([121])

يانې جورابې به دې مخکې په اوداسه پښو کړې وي؛ نو هله به پرې بيا مسح کېږي.

---

[120] : المائدة: 6

[121] : صحيح البخاري (1 / 52)

۲: د مسحې لپاره ټاکلی وخت لري، چې د مقيم لپاره يوه شپه او يوه ورځ ده او مسافر ته دريو شپو او دريو ورځو پورې پرې مسح کولای شي، چې د شريح بن هاني په حديث کې دي:
«جَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ، وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ»([122])

۳: جورابه به پاکه وي، کما فی حديث خلع النعال.

٤: د جنابت په حالت کې پرې مسح نه کېږي.

له دې نه علاوه فقهاوو اوه اجتهادي شرطونه وړاندې کړي دي، چې په هيڅ صحيح حديث کې نه شته او هسې يې عوامو ته خبره سخته کړې ده.([123])

اوداسه نه پس دعاګانې

د اوداسه په شروع کې فقط بِسْمِ اللهِ او په پای کې يې په صحيحو حديثونو کې فقط درې دعاګانې ثابتې دي:

۱: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، او د ترمذي په روايت کې ورسره دغه الفاظ هم ملګری دي: اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ، فُتِحَتْ لَهُ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ.

---

[122] : صحيح مسلم (1 / 232)

[123] : الحق الصريح:۲\٥٩٦

((له عمر بن خطاب رضی الله عنه نه روایت کوي، چې رسول الله ارشاد وفرمایه، چې په تاسې کې هېڅوک داسې نشته، چې هغه اودس وکړي او ښه پوره اودس وکړي او بیا دغه پورتنۍ دعا ووایي، مګر هغه به د جنت اته واړه دروازې پرانیستل شي، په کومه یوه چې غواړي ورننوتلای شي.([124]))

۲: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: " مَنْ تَوَضَّأَ، ثُمَّ فَرَغَ مِنْ وُضُوئِهِ فَقَالَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، خُتِمَ عَلَيْهَا بِخَاتَمٍ ثُمَّ وُضِعَتْ تَحْتَ الْعَرْشِ، فَلَمْ تُكْسَرْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ...([125])

له ابو سعید خدريﷺ نه روایت دی، چې څوک اودس وکړي او له اوداسه نه وزګار شي او بیا دغه پورتنۍ دعا ووايي نو پر دغه دعا یوه ټاپه ووهل شي او بیا تر عرش لاندې کېښودل شي او تر قیامته پورې به دغه ټاپه ماته نشي.))

او څوک چې د اوسه په منځ کې او یا د هر اندام مینځلو پر مهال دعاګانې وايي، هغه صحیح نه دي ثابتې، لکه ځیني خلک په اوداسه کې دننه دغه لاندینۍ دعا وايي:

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي، وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي» ([126])

124: مسلم:۲۲۱۱، مشکاة:۳۹۱۱، سنن الترمذي ت شاكر (1 / 77)

125 : مصنف عبد الرزاق الصنعاني (1 / 186)

126 : مصنف ابن أبي شيبة (6 / 50)، عمل اليوم والليلة لابن السني (1 / 30)،مسند أبي يعلى الموصلي (13 / 257) [حكم حسين سليم أسد] : إسناده صحيح،(شیخ ابو محمد امین الله البشاوري حفظه الله وايي چې دغه روایت صحیح دی؛ خو د اوداسه قید پکې کمزوری دی)

تــيـــمــــم

د شریعت اسانۍ ته گوره چې د انسانانو څومره خیال یې پکې ساتلی دی، داسې یې نه دي کړي، چې مرئ او که چوئ خو دغه کار به همدغسې کوئ، بلکې د فرایضو په تر سره کولو کې یې ډېرې لارې چارې ښوودلي دي، لکه که مونځ دې په ولاړه نشو کولای؛ نو په ناسته یې وکړه او که په ناسته دې نشو کولای، په ملاسته او ان په اشاره یې هم کولای شې، دا زمونږ د الله سبحانه وتعالی د رحم ښکارندوی ده، چې داسې اسانی یې پر خپلو بنده گانو راوستې ده او فرمایي:
يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ (127)

((الله ج پر تاسې د اسانتیا اراده لري او سختۍ اراده پر تاسې نه لري.))
نو د دیني اسانتیاوو له ډلې یو تیمم هم دی او دا پر دې امت د الله سبحانه وتعالی خاصه پېروزینه ده او الله سبحانه وتعالی دې زمونږ پر مور عایشه ابۍ خپل تول رحمتونه را اوروي، چې د هغې د امېل ورکېدو په هغه واقعه کې الله د تیمم اسانې نازله کړه. تیمم د اوداسه بدل دی او په پاکوالي کې د اوداسه پښان دی؛ خو د عذر په صورت کې کېږي، چې یو له هغو عذرونو نه د اوبو نشتوالی دی، لکه الله سبحانه وتعالی فرمایي:
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ ....فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ(128)
((ای مؤمنانو کله چې مانځه ته پاڅئ؛ (نو اودس وکړئ...خو که) اوبه نه مومئ؛ نو د پاکې ځمکې پر مخ تیمم ووهئ (په تیمم کې) د ځمکې له مخ نه خپل مخونه او لاسونه

127 : البقرة: 185

128 : المائدة: 6

مسح کړئ، الله پر تاسي د تنکسيا اراده نه لري، ليکن الله ستاسې د پاکۍ اراده لري، د دې لپاره چې پر تاسي خپل نعمت پوره کړي، چې د هغه شکر وکړئ.))

بل عذر يې ناروغي ده، چې له امله يې تيمم روا کېږي او د ناروغۍ څه حد نه دی ټاکل شوی، بس چې د اوبو کارولو په صورت کې د ناروغۍ زياتېدو اټکل وي؛ نو تيمم راو کېږي؛ خو پوښتنه دا ده، چې ايا تيمم طهارت مطلقه دی او که ضروريه؟ په دې مسئله کې د علماوو تر منځ لږ اختلاف دی، لکه امام مالک رحمه الله د امام شافعي رحمه الله وروستی نظر دا و، چې تيمم طهارت ضروريه دی، ياني په يوه تيمم څو مونځونه نه کېږي، بلکې د هر مانځه لپآره به بېل بېل تيمم وهې؛ خو امام ابو حنيفه، ثوري او ليث،حسن بصري، سعيد بن المسيب، زهري او ابن حزم رحمهم الله بيا وايي چې نه! تيمم طهارت مطلقه دی او په حکم کې د اوداسه پشان دی، چې څومره مونځونه پرې کوې کېږي، تر هغې چې بې اودسه شوی نه يې او په دليل کې دغه ايت وړاندې کوي چې:
وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ ([129])

د تيمم کيفيت

احناف علماء د تيمم طريقه داسې ښيي چې په ټول مخ داسې مسح کوې، چې هيڅ برخه يې بې مسحې پاتې نه شي، ان د سېږمو په سورو کې به هم ګوتې ورننباسې، يا په لاسونو چې مسح کوې؛ نو اول درې ګوتې په لاس ږدې او راکاږې يې تر دې چې څنګلو ته ورسېږي، له هغې نه وروسته چې ببرته راوګرځې؛ نو د لاس په دوو نورو ګوتو د لاس طرف مسح کړې او بيا به پر دغه بل لاس باندې هم دغه شان کار وکړې او بيا د ګوتو منځ کې خلال هم وکړې، ياني ګوتې يو په بل کې سره ورکړې.

خو د تيمم دغه پورتنۍ طريقه په نبوي احاديثو کې نه شته او نه مستحب ده، بلکې هسې بېځايه ځان زورول او تکليفول دي، ځکه رسول اللهﷺ امت ته د تيمم دغه طريقه نه ده ښودلې او احناف تيمم په اوداسه قياسوي، چې په اوداسه کې ټول مخ او لاسونه مينځل ضروري دي؛ نو په تيمم کې به هم ضروري وي؛ خو دغه قياس ناسم دی،

129 : المائدة: 6

ځکه که تیمم په اوداسه قیاسوو؛ نو په اوداسه کې خو د سر مح او پښې مینځل هم شته؛ نو بیا پکار وه، چې په تیمم کې هم پر سر او پښو مسح هم وای، چې دغه پکې نشته، بله دا چې کله موږ په اوداسه کې په موزو مسح کوو؛ نو بیا خو د قیاس غوښتنه دا وه، چې په دغه وخت کې هم موږ په موزو همدغسې مسح کولای چې د پښې هیڅ برخه بې مسحې نه پاتې کېدای؛ خو هلته استیعاب نه شته، بلکې په موزو باندې فقط درې ګوتې راښکل دي؛ نو دغه تکلفات هم پکې نه شته او بله دا چې قیاس به مو هله کولای چې صریح احادیث پکې نه وای؛ نو مانا چې په تیمم کې استیعاب (ټول اندام راګېرول) شرط نه دی او دلیل پرې دا حدیث دی:

فَقَالَ عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ لِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ: أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ، فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ، وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ، فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلم، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا» فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الأَرْضَ، وَنَفَخَ فِيهِمَا، ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ[130])

د تیمم صحیح طریقه دا ده، چې په دواړو لاسونه زمکه ووهل شي او که لاسونو پورې خاوره او دوړه نښتې وي؛ نو هغه دې پوه کړی شي، لکه په حدیث شریف کې راځي:

فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الأَرْضَ، وَنَفَخَ فِيهِمَا ([131])

((نبي ﷺ په خپلو ورغوو ځمکه ووهله او بیا پوه کړل او پر هغې یې بیا مخ او ورغوي مسح کړل.))

او بیا دې دواړه لاسونه پر مخ راښکل شي او تر هغې وروسته دې دواړه ورغوي سره یو پر بل راښکل شي او پر دغه ځای تیمم پوره شو او د څنګلو مسح پکې نه شته، که څه هم له ځینې صحابه کرامو نه په تیمم کې د څنګلو مسح هم نقل ده؛ خو په دې اړه هیڅ صحیح او مرفوع حدیث نه شته.

---

130 : صحیح البخاري (1 / 75)

131 : صحیح البخاري (1 / 75)

د تیمم بېلابېلې طریقې

١: یو ضربه یې تیمم، یانې د مخ او لاسونو دواړو لپاره یو ځل خاوره مسح کول، لکه په حدیث کې راځي:

مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ (132)

((رسول اللهﷺ پر مخ او دواړو ورغوو مسح وکړه))

دا په دې طریقه چې یو ځل به په دواړو لاسونو خاوره ووهې، لومړی به لاسونه پر مخ راکاږې او بیا به لاسونه سره په خپلو کې ومروړې؛ خو په دې کې دغه ترتیب واجب نه دی، چې اول به مخ او بیا لاسونه سره مروړې، ځکه په ځینو روایتونو کې مخ اول ذکر دی او په ځینو نورو کې بیا لاسونه مخکې ذکر دي.(133)

٢: دوه ضربه یې تیمم، یانې یو ځل ځمکه مسح کړې او لاسونه پر مخ راکاږې او بیا دویم ځل ځمکه مسح کړې او په هغې سره لاسونه تر مرondونو پورې مسح کړې، لکه فرمایي:

عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، حِينَ تَيَمَّمُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «فَأَمَرَ الْمُسْلِمِينَ، فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ التُّرَابَ، وَلَمْ يَقْبِضُوا مِنَ التُّرَابِ شَيْئًا، فَمَسَحُوا بِوُجُوهِهِمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً، ثُمَّ عَادُوا، فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ مَرَّةً أُخْرَى، فَمَسَحُوا بِأَيْدِيهِمْ»(134)

((له عمار بن یاسرﷺ نه روایت دی، چې کله صحابه کرامو له رسول اللهﷺ سره تیمم کاوه (واهه) نو مسلمانانو ته رسول اللهﷺ امر وکړ؛ نو هغو پر خپلو ورغو خاوره ووهله او له خاورې نه یې هیڅ شی راوا نه خیست؛ نو په هغې سره یې یو ځل خپل مخونه مسح کړل، بیا یې دویم ځلي ځمکه ووهله او په هغې یې لاسونه مسح کړل.))

٣:له نافع نه روایت دی چې:

---

132 : صحيح البخاري (1 / 75)

133 : فتح الباري:١١\٣٦٣، سبل السلام:١١\١٩٦، د الدين الخالص (پښتو):١٢\٤٧٨ په حواله.

134 : سنن ابن ماجه (1 / 189) حكم الألباني: صحيح

أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ مِنَ الْجُرُفِ , حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْمِرْبَدِ , نَزَلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَفَتَيَمَّمَ صَعِيدًا طَيِّبًا، فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ , ثُمَّ صَلَّى.(135)

((عبد الله بن عمرﷺ له جرف نه را روان و، چې مريد علاقې ته ورسېد؛ نو راښکته شو او په پاکه خاوره يې تيمم وواهه (داسې چې) مخ او تر څنګلو پورې لاسونه يې مسح کړل او بيا يې مونځ وکړ.))

دغه طريقه يوازې د جواز په درجه کې ده، ځکه د دغه نظر پلويانو سره صحيح مرفوع حديث نه شته او د جابرﷺ دا مرفوع روايت چې فرمايي:

عَنْ جَابِرٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "التَّيَمُّمُ ضَرْبَةٌ لِلْوَجْهِ، وَضَرْبَةٌ لِلذِّرَاعَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ(136)

((جابرﷺ له نبيﷺ نه روايت کوي، هغه فرمايي چې د تيمم يوه ضربه د مخ لپاره ده او بله ضربه د دواړو لېچو لپاره ده تر څنګلو.))

د دې په سند کې عثمان بن محمد بن الانماطی دی او په دې کې خبرې اترې شته، لکه حافظ ذهبي رحمه الله فرمايي:

عُثْمَان بن مُحَمَّد الْأَنمَاطِي شيخ روى عَنهُ إِبْرَاهِيم الْحَرْبِيّ فِيهِ لين(137)

٤: دوه ضربه يو د مخ او بل د لاسونو لپاره تر څنګلو او ان تر اوګو او تخرګونو پورې مسح کول، لکه دا هم له ځينو صحابه کرامو نه نقل ده؛ خو دا موقوف روايتونه دي، په مرفوعو احاديثو نه ده ثابته او يو اجتهادي عمل دی.

په دغو څلورو واړو طريقو کې لومړۍ طريقه (يو ضربه يي تيمم) ډېره صحيح ده، ځکه دا په صحيح مرفوع حديث کې راغلې ده، چې د صحيحنو روايت دی، هيڅ شک او شبه پکې نه شته، بل د جمهورو مذهب هم دی، لنډه دا چې دغه نورې طريقې (دوه ضربه يي او په دويمه ضربه کې لاسونه تر څنګلو پورې مسح کول) يوازې روا دي؛ خو

135 : موطأ مالك رواية أبي مصعب الزهري (1 / 62)

136 : نصب الراية (1 / 151)

137 : المغني في الضعفاء (2 / 429)

هغه تکلفات پکې نه شته، لکه مخکې ذکر شول، چې ټول مخ به داسې مسح کوې، چې يو ويښته هم درنه پاتې نه شي، تر دې چې د پوزو په سورو کې به هم ګوتې وردننه کوې... او بله دا چې په تيمم کې استيعاب هم شرط نه دی او نه پکې سات، بنګړی، ګوتمه خوځول او د ګيرې خلال سنت او مستحب دي.([138])

له تيمم کولو نه مخکې د اوبو لټون ضروري دی، ځکه تيمم د اوبو نشتوالي په صورت کې روا کېږي؛ خو دا چې په اوبو پسې به څومره اندازه ځي او په څومره فاصله کې د اوبو په شتون تيمم نه روا کېږي، په دې اړه بيهقي له نافع نه روايت کوي، چې ابن عمرﷺ په مربد النعم سيمه کې اودس وکړ او مونځ يې وکړ، چې دغه علاقه له مدينې نه درې ميله وړاندې پرته ده، بيا مدينې ته په داسې حال کې ننووت چې لمر لا جګ ولاړ و؛ نو مونځ يې را ونه ګرځاوه.([139])

امام بيهقي له امام اوزاعي رحمه الله نه نقل کړي دي، چې له ده نه پوښتنه وشوه، چې که اوبه له لارې نه چپې وي، ستنبدل پسې ضروري دي که نه تيمم به وهل کېږي؟ اوزاعي ورته وفرمايل چې ما ته موسی بن يسار له نافع رحمه الله نه خبر راکړی دی او هغه له ابن عمر رض نه نقل کوي، چې هغه به په سفر کې و او د مانځه وخت به شو او اوبه به ترې يو غشی يا دوه غشي وړاندې وې؛ نو ورپسې به نه ستنېده.

که په لار کې د اوبو امکان وي؛ نو مونځ ورته تر هغې ځنډولای شي، چې د قضاء کېدو وېره نه وي.، بله دا چې د نفلي مانځه لپاره په کړي تيمم باندې فرض مونځ هم کېږي او د راجح نظر له مخې د اوبو په شتون د تيمم حکم ختمېږي، هغه په مانځه کې دننه او که بهر وي.(الدين الخالص:۴۹۹\۲)

---

[138] : امين الفتاوی:۱۵۷،۵۸\۱

[139] : (بيهقي:۲۳۳\۱، بسند صحيح) په حواله د الدين الخالص (پښتو):۵۰۱\۲